مومند
خپرندویه ټولنه

# قذافي او لیبیا

(د قذافي رښتینې څېره او پر لیبیا یې د یرغل لاملونه)



لیکوالان: حفیظ الله لشکري او نوید حمیدي
ژباړن: ارشاد رغاند

مومند
خپرندویه ټولنه

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: ټپي شوی ښار
لیکوال: حفیظ الله لشکري او نوید حمیدي
ژباړن: ارشاد رغاند
خپرندوی: مومند خپرندویه ټولنه - جلال اباد
بریښنالیک: momand.books@gmail.com
ډیزاین: هدایت الله عادل
د پښتي ډیزاین: رحمان الله بهیر
چاپشمېر: ۲۰۰۰ ټوکه
چاپ وار: لومړی
چاپنېټه: ۱۳۹۰ لمریز
چاپځای: د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

د ترلاسه کولو پتې:
عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی - مخابراتو څلور لارې - جلال اباد. اړیکې:
۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱

خوست: غرغښت کتابپلورځی
نوي کابل کتاب پلورنځی بوړه بازار
پکتیکا مدینه کتابپلورځی

بسم الله الرحمن الرحيم

## د رغاند یوه پر ځای هڅه!

هر هغه کتاب چې کومې ژبې ته ژباړل کېږي زه فکر کوم چې تر ټولو به په کې دا مهمه وي چې د هغه ژبې ویونکو ته څومره د اړونده کتاب موضوع مهمه ده او د هغو پر ژوند څه ډول اغېز کولای شي او د هغوی په ژوند او فکر کې څه بدلون را وستلی شي دا هغه خبرې دي چې هر کتاب ژباړونکی یې باید په پام کې ونیسي او که چېرې دا ارزښتونه په کې پام کې ونه ونیول شي زه فکر کوم چې هڅه به یې په ټولنه کې ښه نتیجه ورنکړي او کتاب به یې هم تر ډېره حده په الماریو او کتابخانو کې پاتې او لوستونکي به پیدا نه کړي. ښه خبره دا ده چې موږ د ټولنې ضرورتونه حس کړو او په مقابل کې یې هڅې پیل کړو.

د لیبیا او قذافي په هکله له معلومات پیدا کولو سره ډېر افغانان دلچسپي لري، له نېکه مرغه ښاغلي ارشاد رغاند په دې اړه پر ځای هڅه کړې چې د (لیبیا او قذافي) په نوم کتاب یې راوژباړه، زه فکرکوم چې د دې کتاب له لوستو څخه وروسته هغه تصور چې لوېدیځو رسنیو د ډګروال معمرالقذافي په هکله خپور کړی و، تر ډېره حده به بدل شي.

کله چې یو شخص د امریکا او د هغې ملاتړ کوونکو هېوادونو د ګټو خلاف او خپلو ملي ګټو ته ژمن او په سر کې یې د خپلواکۍ فکر وي؛ نو دوی یې لومړی د رسنیو له لارې ډېر بدناموي چې په دې رسنیو کې تر ډېره حده غربي رسنۍ چې په ظاهر کې ډېرې خپلواکې، ناپېیلې او ځان ژورنالیستیکو اصولو ته ژمن بولي؛ خو

په عمل کې امریکا او د هغې ملاتړ کوونکي هېوادونه ترې د یوې پروپاګنډې او د خپل مخالف بدنامولو الې په توګه استفاده کوي، چې ترڅو دوی خپلو نامشروع اهدافو ته ورسېږي.
په دې کتاب کې چې کوم معلومات د ډګروال معمرالقذافي په هکله راغلي دي، ترې جوتېږي چې قذافي هغسې سړی نه و، لکه څنګه چې غربیانو خلکو ته ورپېژانده. ډاګروال معمرالقذافي لا لس کلن وو چې د خپل هېواد د ازادۍ فکر ورسره وو، هغه مهال چې ایټالویان پر لیبیا واکمن ول؛ نو دی د ښوونځي زده کوونکی و، د دوی په ښوونځي کې یوازې یو ایټالوی ښوونکی و، چې د ده سخت بد راته. یو ځل د دغه ښوونکي پام ورواوښت چې دی پرې ملنډې وهي، قذافي ایټالوي ښوونکي ته وویل «له نفرته ډکه څېره لرې!» ښوونکی ورته په ځواب کې وایي «زه درنه ډېره زیاته کرکه لرم!» قذافي ورته په غبرګون کې وویل «زه له ټولو ایټالویانو کرکه لرم!»
کله چې ښوونکي ترې وغوښتل، له ټولګي ووځي، قذافي وویل «وځې به ته، هم له ټولګي نه او هم له هېواده مې! ځکه تاسې ایټالویانو زموږ هېواد یرغمل کړی.»
د پاملرنې وړ ده چې امریکا خپلو ناوړه موخو ته د رسېدو له مخې د نړۍ هغه سیمې چې ستراتېژیک اهمیت لري، کوښښ کوي هلته خپلې پوځې هډې جوړې کړي او له دې یې موخه دا ده چې اسلامي هېوادونه ترخپل کنټرول او اغېز لاندې راولي، په دې پلمه چې د نړیوالې سولې له ټینګښت سره مرسته کوي، له دې لارې خپله واکمني نوره هم پراخوي معمرالقذافي د امریکایانو په دغه شومو

موخو ښه پوهېده او په ښکاره يې د دوی دغه پټې موخې راڅرګندولې.

د ده فکر او هڅې چې په دې کتاب کې ذکرشوي دي لومړی د ليبيا د خپلواکۍ او پرمختګ لپاره متمرکزې دي او همدارنګه تر ډېره د اسلامي هېوادونو په يووالي او خپلواکۍ بنا وې، چې ښه بېلګه يې په لاندې ويناوو کې څرګند ېږي:

((قذافي پر ۱۹۶۹کال په شرم الشيخ کې د عربي هېوادونو سرمشريزې ته د وينا پر مهال د سعودي عربستان پر پاچا ملک عبدالله په نيوکو سره د رياض سياستونه ناسم وګڼل.

هغه دغه راز د منځني ختيځ په اړه د امريکا متحده ايالاتو پر دريځ نيوکې وکړې، ده ملک عبدالله ته وويل: امريکا چې کوم خوراکي توکي برابروي، هغې ته روسيه اور بلوي، اروپايي هېوادونه يې بېرته سړوي، اسراييل يې خوري او عربي هېوادونه يې ککړ شوي لوښي پرېمينځي.

قذافي زياته کړه: عرب بايد دومره سپک نه شي چې کاپرو ته پخپله خاوره کې پوځي اډې ورکړي، تاسې تل پر لويديځ ملا تړئ، دومره بايد ذليله نه شئ، تاسې د عربو مشران بايد د خدای په لاره کې خدمت وکړئ او له خدايه مرسته وغواړئ، څو هېوادونه مو د هغو او دغو له اغېزو خوندي اوسي، که مو له خدايه مرسته وغوښته، دا لويديځ هېوادونه به مو پر وړاندې ذليله وي، زه څله د لويديځ پر وړاندې په مېړانې سره ولاړ يم؟ما سره ستاسې په پرتله هيڅ هم ډېر نه دي، ترتاسو کمزوری هم يم، خو کوم قوت چې را په برخه شوی، د

هېواد د خپلواکۍ له امله مې دی، د لیبیا خلکو له همدې امله پرېنښوده چې د بهرنیانو لاسونه یې هېواد ته وغځېږي.»
دغه عربي شیخان چې سره له دومره امکاناتو یې بیا هم د امریکاپه لمن کې ځانونه غورځولي او خپل حامي او ساتونکي یوازې امریکا ګڼي هېواد د دوی دی او واکمني او استفاده ورځخه امریکا کوي، معمرالقذافي غوښتل چې دا هېوادونه باید په پوره خپلواکۍ خپلې چارې سمبال کړي نه دا چې د امریکا حکمراني دې دلته روانه وي. د دې ترڅنګ معمر القذافي غوښتل چې په نړیواله کچه اسلامي هېوادونه سره متحد او یو موټی کړي.
د ملګرو ملتونو سازمان چې یوه تشریفاتي بڼه لري د ملګرو ملتونو ټولنه د امریکا، انګلستان، جرمني او فرانسې په شان د څو کفري هېوادونو یوه لاسپوڅې ټولنه او موخه یې د اسلامي هېوادونو یرغمل کول دي، یوازې د امریکا او د هغې ملګري هېوادونو لپاره کارکوي او ټولې کړنې یې د امریکا تر امر او تاثیر لاندې سرته رسوي، تر اوسه یې په هېڅ ځای کې هغه خپل اداري حاکمیت نه دی ساتلی او د امریکا د لاس اله ده، په ډېر جرئت سره یې د دې سازمان په استعمار کېدو نظر څرګند کړ، چې دا لومړنی رئیس جمهور وو چې په دې سازمان کې یې دومره په جرئت خبرې وکړې.
قذافي له ۱۹۶۹ کال یانې له کومې مودې راهیسې یې چې واک لاسته ورغلی و، تر مرګه پورې یې د ډګروالۍ رتبه لرله، سره له دې چې د لیبیا دولت څو ځلې خپل رهبر ته د هغه د رتبې د لوړولو

وړاندیز وکړ، خو قذافي یې په خوب کې ویل، چې ما داسې څه نه دي کړي چې پوځي رتبه مې پرې لوړه شي.
په داسې حال کې چې د ناټو مشران او غړي هېوادونه که څه هم د خپلو تبلیغاتي هڅو په برکت په نړۍ کې د سمونې او رغونې اتلان ګڼل کېږي، په عراق، افغانستان، فلسطین او لیبیا کې د جګړې او ورانۍ پیلونکي دوی همدا شان ځانونه د عدالت ملاتړي او په تنګه یې جګړې ته لاس غځونکي ګڼي، که دا رښتیا وي نو پوښتنه دا ده چې په ابوغریب، ګوانتانامو او بګرام زندانونو کې انساني تلفات او د افغانستان، عراق، پاکستان او لیبیا په ښارونو کې د ولسمشر اوباما په امر شوو پوځي لاسوهنو او ولسي مرګ، ژوبلو ته انسانپالنه او عدالت ویلی شو؟
امریکا او ملګرو یې په دې عمل سره دا هم وښوده چې دوی ته د ملګرو ملتونو په دفترونو کې پراته نړیوال قوانین نه؛ بلکې دا قانون دی چې که څوک د لویدیځ خلاف وي، د قانون خلاف دی او باید وځپل شي، لکه صدام حسین، ملاعمر، حکمتیار، بن علي، ډګروال قذافي، بشارالاسد او سیدعلي خامنه یي چې د همداسې ځپل شوو او ځپل کېدونکو رهبرانو په ډله کې راځي.
په پای کې زه دا هم باید یاده کړم چې دغه کتاب ښاغلي رغاند په ډېر روانه او ساده ژبه ژباړلی دی چې یو عام لوستونکی هم ترې ښه ګټه پورته کولای شي. ښاغلي رغاند تر دې دمخه هم یو شمېر کتابونه ژباړلي او خپاره کړي دي. د دې تر څنګ تکړه شاعر، لیکوال او ژورنالیست هم دی. همدرانګه یې د جلالکوټ ادبي

خوښبنت په رامنځته کولو او چټک پرمختګ کې سرلاري هڅې د نه هېرولو دي.

زه ورته د اوږده ژوند دوعا کوم.

عبدالبصير سباوون

د ننګرهار تولنيز مرکز، ميديوتيک مشر

۱۳۹۰، ليندی، ۱۷

## يو ياد، يوه اړتيا!

کال، دوه وړاندې چې په ننګرهار کليد راډيو کې د خبري څانګې مسول وم، د دريو بجو خبرونه مې په ژوندۍ بڼه لوستل، د سر خبر يې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د ليبيايي ولسمشر قذافي د احساساتي؛ خو رښتينې وينا هغه برخه وه چې په افغانستان کې يې د ترهګرۍ ضد جګړې په نامه روانه لوبه غندلې او له دروغجنو پلمو ډکه ګڼلې وه.

خدای مې دې نه غلطوي، چې د ژونديو خبرونو په لوستو کې به مې د ژورناليستيکو اصولو خلاف دا لومړی ځل په نابېره او لوړه کچه ډېر احساساتي کېدل وو.

خبر رانه داسې ولوستل شو، لکه زه چې قذافي يم او د ملګرو ملتونو غونډې ته وينا کوم.

د قذافي له لرې اشنا نامه سره مې همدا شېبه عاطفي لېوالتيا پيدا شوه، له هغې راهيسې مې دا اشنا نوم تر شونې کچې ډېر واورېد، ولوست او خوښ کړ.

تر دې چې( ما لاګل بوی کړی نه و، بهار تېرشو) قذافي ووژل شو او د ځاني وړاندوينې په خلاف مې لويديځوالو خو لاپرېږده چې زموږ ډېرو افغاني رسنيو هم د ديکتاتور، وژونکي، ظالم او جابر رهبر په نامه ياد کړ.

د هر انسان په شان قذافي هم ښايي نېمګړتياوې، ښوييدنې او تېروتنې به لرلې وي، خو دومره نه لکه چې ورپسې وويل شوې.

د «لیبیا او قذافي» په نامه دا کوچنی؛ خو کتمور کتابګوټی مې په سرېنې روژه کې د همدې تر ډېره بریده ناسمو رسنیزو تبلیغاتو په غبرګون کې وژباړه.

کتاب کې کېدای شي داسې څه هم وي، چې لا څېړنه او پلټنه غواړي، خو چاپ ته یې په دې هیله یم، چې یوه تشه به را ډکه کړي.

دې کې کلېسا ،مندر او هم د درمسال خونې

دې کې مې سپېڅلې کعبه ده ،نړۍ وژغورئ!

ارشاد رغاند

د جلالکوټ ادبي خوځښت مشر

# لیکلړ

مخ | سرلیک | ګڼه

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د لیبیا تاریخي جغرافیه | ۱ |
| ۲. | د لیبیا ښارونه | ۵ |
| ۳. | د لیبیا تاریخ ته لنډه کتنه | ۸ |
| ۴. | د لویدیځ پر وړاندې د یوازیني ډېر سخت دریځ ابومنیار معمر قذافي پېژندنه | ۱۹ |
| ۵. | د لیبیا اقتصاد | ۳۸ |
| ۶. | د امام موسی صدر قضیه | ۴۲ |
| ۷. | د قذافي ځيني ویناوې | ۴۵ |
| ۸. | د لیبیا او امریکا اړیکې | ۵۳ |
| ۹. | د لاکر پېښه | ۵۸ |
| ۱۰. | لیبیا او لویدیځ | ۶۴ |
| ۱۱. | قذافي او اسلامي نړۍ | ۷۵ |
| ۱۲. | پر نړۍ د امریکا فوځي بریدونه | ۸۰ |
| ۱۳. | د لیبیا وروستۍ پېښې | ۹۲ |

## لومړی څپرکی

## دلیبیاتاریخي جغرافیه

### توکم او خلک:

دلیبیادوګړوکچه اته نیم میلونه ده،داکچه پر ۱۹۹۰ زېږدیز کال شپږ میلونه درې اویازره پینځه سوه او اوه نوي تنه ګڼل شوې وه،دا وګړي له توکمیزه پلوه:عربان،بدویان،مصریان اوبربریان دي،دېر خلک يې پر عربۍ ګړېږي خو په یوشمېرسیموکې يې ګړدود(لهجه)د بربرۍ ژبې اغېزمنلی.

بربریان هغه خلک دي چې دشمالي افریقاپه ټولوسیموکې د مراکش له طنجه بندره نیولې تر ترابلسه پورې په قبایلي بڼه ژوند کوي،د دوی یوشمېر کسان په شلمه پېړۍ کې دښاري اوصنعتي ژوند ملګري شوي.

دازړور،غوڅ دریځی اوننګیالی ټبردی،په لیبیاکې دښځینه وو د ژوند موده له ۴۴کلونو څخه نیولې تر ۷۰کلونو او د نارینه وو له ۷۴کلونو څخه نیولې تر ۸۱ کلونو پورې اټکلېږي.

د ۲۰۰۱ زېږدیز کال د رسمي شمېرنو پربنسټ یوعشاریه درې سلنه لیبیایان پراېډز ناروغۍ اخته دي.

دلیبیا ۹۷سلنه وګړي بربراوعرب توکمه دي،اسلام يې رسمي دین اوله مذهبي پلوه ۹۷سلنه لیبیایان سنیان دي،د دوی رسمي ژبه عربي ده خو انګلیسي اوایټالوي يې په دغه هېواد کې دود شوې ژبې دي.

دليبيا جغرافيه:
ليبيا په شمالي افريقا او د مديترانې سيند په سويلي غاړه کې پروت دی، دافريقا ځلورم پراخ هېواد دی، له شماله مديترانې سيند، له ختيزه مصر، له سوېل ختيزه سوډان، له سوېله چاد اونايجيريا، له لويديزه الجزاير اوله سوېل لويديزه تونس سره نېږديوالی لري.
ليبيا پر ۲۰۰۷ زېږديز کال د ۰۰۰، ۷۵۷، ۱ کيلومتره پراخوالي په وړاندوينې سره دنړۍ شپاړسم پراخ هېواد په توګه يادشوی.
دشمالي افريقاهېوادونه:
شمالي افريقا دافريقا د لويې صحرا شمالي غاړې ته پرتو هېوادونو ته وايي، هلته ۹۰ سلنه خلک سپين پوستي دي، دشمالي افريقا په هېوادونو کې: الجزاير، تونس، مصر، ليبيا، مراکش، سوډان اوغربي صحرا هېوادونه شامل دي.
دايتوپيې، اريتره اوموريتانيې هېوادونه هم کله دشمالي افريقا په هېوادونو کې شمېرل کېږي.
دعربي هېوادونو ټولنه:
دعربي هېوادونو ټولنه له اردن، متحده عربي اماراتو، بحرين، الجزاير، تونس، سوډان، سوريې، سومالیې، عراق، سعودي عربستان، فلسطين، قطر، کومور، کويټ، لبنان، ليبيا، مراکش، غربي صحرا، مصر، المغرب(موريتاني) يمن اوعمان هېوادونو څخه رامنځته شوې.

## دلیبیاسیاست

د لیبیا رسمي نوم د لیبیاد خلکوسوسیالیستي جمهوریت او د حکومت ډول یې د یوه قانون رامنځته کوونکې جرګې لرونکی اسلامي سوسیالیزم دی.

په لیبیا کې حکومت پردوو برخوو وېشل شوی چې یوه برخه یې د معمرقذافي په مشرۍ له ۱۹۶۹ز کال راهیسې جوړه شوې او دویمه برخه یې د کنګرې استازي دي چې هره برخه د خپلو چارو څارنه کوي.

له ۱۹۶۹ زکال راهیسې معمرقذافي دلیبیادرهبر اومبارک علي عبدالله الشامخ له ۲۰۰۹ زکال راهیسې دحکومت درېس په توګه دنده ترسره کړه.

لیبیاد ملګروملتونو، عربي ټولنې اونفت صادرونکو هېوادونو د ټولنې غړی دی.

دلیبیابیرغ:

لیبیاد ۱۹۵۱زکال د دسمبرپر۲۴مه له ایټالیې څخه خپله خپلواکي لاسته راوړه او له هماغه مهاله تراوسه یې بیرغ شین رنګ لري، داپه نړۍ کې یوازینی بیرغ دی چې یوازې یو رنګ لري اوهیڅ کومه نښه یانورڅه پکې نشته.

ژیوپلټیک موقعیت:

ترتونس وروسته چې له سیسیل جزیرې سره نږدې واټن لري، لیبیا لومړنی هېواد دی چې له مالت او کرت جزیرو سره نږدې واټن لري.

ته سیمې چاد لارې له اوسودان نایجیریا د چې کوي هڅه اروپایان
هم دې په ورته دا ،ولري ارتیا ډېره ته نفتو لیبیا د دوی ځکه ،نتوځي
ورتلونکې پسې نفتو په لیبیا اود دي لنډه سره چې پرېوځي اسانه
اروپایانو نه لیبیا له ،ولري نه مخکې په لارې خطرناکې هم یې بېړۍ
خلیج فارس د پلوه مالي له دونه لېږ نفتو د ته بازارونو امریکا د او ان
اوهرمزتنګي څخه ترنفت لېږدونې ارزانه پرېوځي.
د به بېړۍ لېږدونکې نفت اروپایي دا چې خولادا پورې زړه په
پخواخلاف د سومالیې د سمندري غلوله ګواښه هم په امان کې وي.
په تولـه کـې د کرت، مالت او خلیج جزیرې د لیبیا ستراتېژیک
ارزښت پیاوړی کړی.

## دویم څپرکی

### دلیبیاښارونه

لیبیادجغرافیوي وېش له مخې پر ۲ ۴ښارونو او۴ لویو برخو وېشل شـــوی،دلته یــــې د اړتیـــا لـــــه مخــــې د مهموهغـــــــو:طرابلس، طبرق،بطنان،درنه،قبـــــــه،جبل الاخضر،مرج،بنغازي.واحات،کفره،جفره،مزق،سها،وادي،الحیاه ،شاطي، مصراته

مرقـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــب بني ولید ،ترهونه،مسلاته،جفاره،زاویه،صبراته،صرمان،النقاط،الخمیس،غریان، یغرن،

نالوت،حزام،الخضر،اجدابیه،غات،غدامس،مزده اوتاجور نومونه اخلو او یو څو یې په لنډ ډول در پېژنو.

طرابلس

تـــرابلس دلیبیاپلازمېنـــه ده چـې پـر۲۰۰۷زکـال یـې دوګـړو شمېر۰۰۰ ،۱۸ ،۲تنه یانې د دغه هېواد د ټولو وګړو یو پردرېیمه برخه وه،د لیبیا شمال لویدیز ته پرمدیترانې سیند پرته پلازمېنه طـرابلس پـه اوومـه پېړۍ کـې تـر رامنځتـه کولـو وروسـته فنیقانودآوا(oea)په نامه ونوموله،طرابلس عربي نوم دی او یونانۍ ژباړه یې(تریپولي)د درېیو ښارونو په مانا ده.

بنغازي:

بنغازي پر خلیج سمندرګي د لیبیا د یوه پروت بندر نوم دی، دا ننني بندر د برنیس په نامه د یونان د یوه پخواني ښار چې دشاه سیرن وروړ رامنځته کړی، سویل لویدیز ته په نېږدې واټن کې پروت دی.

سیرن او د شمالي افریقا نورې سیمې په پخوا زمانوکې د ایراني شاهنشاه او یونان د پوځي ناندریو میدانونه ول، د دې بندراوسنی نوم دسیمې د یوه مخور (سید غازي) له نامه سره چې پر ۱۴۵۰ ز کال ومړ، تړاو لري، وروسته د دې ښار نوم بني غازي او اوس پر بنغازي اوښتی.

بنغازي د ۲۰۰۳ زېږدیز کال د سرشمېرنې له مخې ۶۷۰،۷۹۷ تنه وګړي لري.

**مصراته:**

د مصراتې تاریخي ښار د لیبیا یو له ګڼ مېشتو ښارونو څخه دی، دا ښار د خلیج سمندرګي په لویدیزکې پروت دی، تر پلازمېنې طرابلسه ۲۰۰ کیلومتره واټن لري او د ۶۲۹،۱۲۱ تنو استوګنو په لرلو سره د لیبیا د دریم لوی ښار حسابیږي.

خلیج سیدرا

خلیج سیدرا (سیرت) د مدیترانې سیند د یوه خلیج نوم او د لیبیا په شمال کې پروت دی، دا خلیج په ختیځ کې تر بنغازي او په لویدیځ کې تر مصراتې ښاره پورې ۸۰۰ کیلومتره پراخوالی لري.

پر ۱۹۸۱ او ۱۹۸۶ المریزکلونوکې دامریکا او لیبیا د هوایي جګړې پرمهال چورلکې د همدې ښار په فضا کې په جګړه واوښتې، په هغو جګړو کې امریکایي چورلکو د رونالد ریګن په امر په بنغازي کې د

لیبیایي رهبرشخصي کوربمبارکړ چې پکې کور ویجاړ او د لیبیایي رهبر یو زوی شهید شو.

د خلیج سیدرا ښاربنسټ ایښودنه اوپکې د لومړي ځل لپاره استوګنه دري زره کاله وړاندې فنیقانو کړې، رومیانو دې سیمې ته توبارتیس نوم ایښی و، دلته په شلمه پیړۍ کې د ایټالویانو په لاس بندر جوړ شو، لیبیا تل پر دې خلیج د پوره واکمنۍ د حق ادعا کړې، خو یو شمېر هېوادونو نه ده منلې.

سبها:

سبها هم د لیبیا یو ګڼ مېشتی ښار دی، دلته ډېر خلک پر سوداګریزو چارو، کب نیونې او په نفتي بندرونو کې پر کار، روزګار بوخت دي.

مسلاته:

دا ښار د لیبیا په شمال ختیځ کې له پلازمېنې طرابلس سره ۱۳۰ کیلومتره لنډ پروت دی، مسلاته تر ډېره د اسلامي ښوونو یو مهم مرکز پاتې شوی، پردې سربېره پکې د زیتونو ډېر کښت او د زیتونو د غوړیو ډېر تولید له امله هم ډېر مشهوردی.

د لیبیا دا ښار له سمندر څخه ۱۹۸ کیلومتره لوړ او د وګړو شمېر یې ۱۳۹۰۰۰ تنو په شاوخوا کې دی.

## دریم څپرکی

### د لیبیاتاریخ ته لنډه کتنه

له لرې زمانو راهیسې تر عثماني خلافته پورې، پخوانیو یونانیانو د شمالي افریقا ټولې سیمې د لیبیا په نامه یادولې، د بربریانو یوه ډله چې (لبو) نومېده، پر دې ځمکه مېشت او پکې پر کرنې بوخت ول او د لیبیا نوم هم د همدې خلکو له نامه څخه سرچینه اخلي.

له میلاده پینځه پېړۍ وړاندې واندالیان چې د ګټ ټبر یوه څانګه او د هماغو وحشي بربریانو یوه برخه وه چې رومیانو تل ترې وېره لرله، دخلکو تر لوټلو وروسته لیبیا ته را ننوتل، خو د رومیانو سردار بلیزاریوس له لیبیاڅخه وشړل او دا هېواد د ختیزو رومیانو د امپراتورۍ یوه برخه شوه.

کله چې حضرت عمروبن عاص (رض) د اسلام د خلیفې له لورې د مصر واکمن شو، لیبیا هم د مسلمانانو لاس ته کېوت او مسلمانو واکمنو څو پېړۍ پرله پسې پر دې هېواد واکمني وکړه، په اولسمه هجري پېړۍ کې مسلمانانو په نوو بریالیتوبونو کې د دې هېواد ټوله واکمني ترخپلې ولکې لاندې راوسته چې د دې سیمې د ټولو خلکو د مسلمانیدو لامل شوه، خو کله هم پکې د یوه واحد مرکزي دولت د رامنځته کېدو لامل نه شو، ترهغې چې د ممالیک د حکومت وار شو، د مصر ممالیک یوازې د سرنیکا د قبایل کابو کولای شول، په ۱۷مه زېږدیزه پېړۍ (۷مه هجري پېړۍ) کې دوی د فرانسوي رهبر سن لویي په مشرۍ او د صلیبیانو په مرسته پر لیبیا برید وکړ خو څه لاسته ورنغلل، په ۱۴مه زېږدیزه پېړۍ (۸مه هجري پېړۍ کې) د لیبیا د اوسنۍ پلازمېنې طرابلس واک د مسلمان

واکمن بني حفص لاسته ورغی، د ده د حکومت مرکز په تونس کې و او ډېره موده یې پر دې سیمې واکمني وکړه.
پر لیبیا د عثماني خلافت له واکمنۍ څخه په ۱۲مه زېږدیزه پېړۍ (۹مه هجري پېړۍ کې) پر لیبیا د ایټالویانو تر یرغله پورې عثماني ترکانو د ممالیک واکمنو وروستۍ ډله له لیبیا څخه وو پسته او د بیک په نامه یې د والیانو په کچه چارواکي ورته وټاکل.

باید ووایو چې پر لیبیا (ترپپولیتانیا، سیرینیما، فزان سیمو) د عثماني خلافت واکمني په دې هېواد کې د لومړني سیاسي نظام د رامنځته کېدو لامل شوه.

عثمانیانو ترهغې وروسته چې پر ۱۵۱۷ زېږدیز کال مصر ونیو، د لیبیا د ځپلولو په هڅه کې شول او پردې سیمې واکمني یې هم د اسلامي نړۍ حق وباله، دوی وکړای شول چې پر ۱۵۵۱ ز کال ترپپولي سیمه ونیسي.
ترپپولي تر ۱۷۱۱ زکاله پورې د عثمانیانو لخوا اداره کېده، پر ۱۷۱۱ ز داحمد قرامانلي په نامه یوه بني سري افسر پاځون او ځان یې د ترپپولي پاچا اعلان کړ، هغه دلته یو داسې حکومت رامنځته کړ چې تر ۱۸۳۵ زکاله پورې یې د بهرنیانو، سمندري غلو، برتانیې او فرانسې اغېز کمزورې کړ.
پر ۱۸۳۵ ز عثمانیانو د احمد قرامانلي حکومت تر یوه برید وروسته را نسکور او یو ځل بیا یې پر لیبیا خپله واکمني ټینګه کړه.
له هغه مهاله تر ۱۹۱۱ ز پورې چې لیبیا د ایټالیې په نیواک کې وه، عثماني قومندانانو پر ترپپولي واکمني وکړه، دوی دلته لوی او

کړای شول چې تر ۱۸۵۸ پورې د
مهم بدلونونه رامنځته کړل، ویې کړای شول چې تر ۱۸۵۸ پورې د ترپولیتانیا ټولې واګې لاسته راوړي او د منظمو هڅو له لارې د اسلام د سپېڅلي دین په ښوونه، د روغتونونو، سوداګریزو بندرونو، ښوونځیو، مدرسو، ترانزیتي لارو او وسلو جوړونکو کارځایونو د جوړولو بریالۍ هڅې وکړي.
دوی همدغه شان د یوه منظم پوځ په رامنځته کولو سره د عثماني خلافت اړوندو هېوادونو ترمنځ پولې ختمې کړې، عثماني واکمنو وکړای شول چې د خلکو د پراخ ملاتړ په مټ په دې سیمو کې ځینې نورې مهمې چارې هم ترسره کړي.
عثماني خلافت له ۱۸۵۸ څخه تر ۱۹۱۱ پورې په ترپولیتانیا کې د مرکزي حکومت واکمنۍ په پرله پسې ډول پیاوړې کړه چې په پایله کې یې ډېر کوچیدونکي خلک په کلیو کې مېشت او ډېر ښارونه ور ته رامنځته شول، مهمه دا چې مدرسو، کرنې او سوداګرۍ په دې موده کې ډېره وده وکړه.
عثمانیانو په ترپولیتانیا کې د اسلامي ښوونو پراختیا ته هم ډېره پاملرنه وکړه چې دغلته د یوه نوي فکري غورځنګ د رامنځته کېدو لامل شوه، له فرهنګي پلوه دغه مهال ترپولیتانیا له استانبول سره ورته وه، پر دې سربېره د دې سیمې ځایي چارواکو، روڼ اندو، قبایلي رهبرانو او صوفیانو یو ډله ییز هویت وموند.
سرنیکا هم په دې دوره کې یانې له ۱۸۳۵ څخه تر ۱۹۱۱ پورې خپلې اداري چارې د عثمانیانو تر واکمنۍ لاندې د یوه جلا ولایت په توګه پرمخ وړلې، فرانسې او ایټالیې په ګډه پر ۱۸۳۵ کال پر دې

مسلمان مېشتو سیمو برید وکړ او په پایله کې ترپیولیا د دې هېوادونو لاسته ولوېد.

**په لیبیاکې د مقاومت غورځنګونه:**

پرلیبیا د ایټالوي یرغلګرو د یرغل پرمهال د دوی پروړاندې مبارزې ته د لیبیا د خلکو د مقاومت دوه غورځنګونه رامنځته شول:

۱-دامیرسیرنا ییک(برقه)سیاسي-مذهبي غورځنګ:د دې غورځنګ مشري محمد ادریس السنوسي کوله او پر۱۹۱۸ز کال رامنځته شو،د غورځنګ مشر د سنوسي صوفیانو لاروي و.

۲-د عمر مختار په مشرۍ هېواد پاله اسلامي غورځنګ:د دې غورځنګ مشر چې پر۱۸۵۸کال زېږیدلی و،یو هڅاند،مجاهد او په لویه کچه هېواد پال و.

پر۱۹۱۲کال یې په بنغازي کې د ایټالوي یرغلګرو پروړاندې پاڅون وکړ او شل کاله یې په نارینتوب مبارزه وکړه،پر۱۹۳۱کال یې د ایټالوي یرغلګر مارشال ګرازیاتي پوځونه تر کلکو بریدونو لاندې راوستل،خو په پایله کې ونیول شو او د ۱۹۳۱ز د سپتمبر پر ۱۲مه د خلکو په مخکې پر دار وځړول شو.

سنوسیه ډله:

محمد بن علي سنوسي چې د اجتهاد داعیه لرله او په اصولو،کلام او تصوف کې یې څو کتابونه لیکلي وو،پر۱۷۸۷کال په الجزایر کې وزیږېداو په مکه کې یې زدکړې وکړې،پر۱۸۳۷کال یې د یو شمېر علماوو،روحانیونو او مجاهدینو په ملتیا د سنوسیې ډله جوړه کړه،دې ډلې د مجاهدو علماوو او یوشمېر صوفیانو په مټ

چې له خپل ځښتن سره یې خورا مینه وه، په شمالي افریقا او شاوخوا کې یې لاس په کار شول.

دا ډله په شمالي افریقا کې د قرآن او حدیثو د لومړنیو اصولو د بیا ګرځېدو غوښتونکي ول او د هر مسلمان له حقه یې د اسلامي احکامو او اصولو په رڼا کې د خپل ځاني اجتهاد پر بنسټ دفاع کوله.

دوی تل په نړیواله کچه د اسلام د پراختیا او بېلا، بېلو مسلمانو کړیو ترمنځ د یووالي د ساتنې هڅې کولې.

سنوسیانو د اسلامي یووالي د فکر پالنې ته ډېرې هڅې وکړې او اخلاقي مریدانو یې هم د دوی پر پله ډېر ګامونه واخېستل، په دې برخه کې د سنوسیانو اړوندې هغه نوې مدرسې یادولی شوو چې د سید محمد علي بن سنوسي د اندوفکر د ژوندي ساتنې لپاره یې د پام وړ هڅې وکړې.

سنوسي د تبلیغاتي هڅو په لړ کې یې سیرنیکا ته لاړ او تر ۱۸۵۹ یانې ترمرګه یې دغلته بېلا، بېلر کوښښونه وکړل.

سنوسي او ملاتړو یې پر اسلامي تبلیغ او ښوونو رهاخوا پر سوداګریزو او کرنیزو هڅو هم بوخت ول.

سوداګریزې بوختیاوې یې د کفره او وادي لارو ترمنځ چې له خورا سوداګریز ارزښته برخمنې وې، ترسره کولې.

د سنوسي عالمانو دا نیمه سیاسي هڅې په سیرنیکا کې تر ډېره بر... او د خلکو د پام وړ شوې، په همدې یې وکړای شول چې په سوډان او د مصر په لویدیځ کې له مېشتو قبایلو څخه یوه لویه ټلواله رامنځته کړي.

دې تلوالې پر چاد سیند د فرانسویانو د واکمنۍ او پر لیبیا د ایټالوي یرغل پر وړاندې کلک مقاومت وکړ.
ایټالویانو پر ۱۸۷۸ کال د کنګرې له رابللو راهیسې ترپیولیا یوله هغو مهمو سیمو څخه ګڼله چې دوی پکې پراخ اقتصادي اغېز درلود، په همدې موخه یې د لانورې اغېز شیندنې لپاره پراخې اقتصادي هڅې کولې.
دوی بالآخره پر ۱۹۱۱ کال د فرانسې او المان له خپلمنځیو ډیپلوماتیکو ناندریو څخه په ګټې اخېستنې سره دا سیمه ترخپل یرغل او واکمنۍ لاندې راوسته، دوی همدا شان وکړای شول چې خپله واکمني له دې ځایه سیرنیکا ته هم وغځوي.
پر لیبیا د ایټالویانو په تېرې پسې د بېلا، بېلو کړیو او په ځانګړي ډول د سنوسیانو پاڅون پراخ شو، سنوسیانو باور درلود چې په ترپیولیا او سیرنیکا کې یوازې دوی د عثماني امپراتورۍ وارثان دي او په همدې دلیل باید واکمني د دوی په لاس کې وي، خو ایټالویانو په لږه موده کې وکړای شول پاڅونونه وځپي.
دوی تر لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په ترپیولیتانیا کې ځایي مخالفتونه مات کړل او پر ۱۹۳۲ کال یې وکړای شول د سرنیکا پاڅون کوونکي هم له زوره وغورځوي.
د دوی په ماتې پسې د سیرنیکا ډېرې ځمکې د ایټالویانو تر واک لاندې راغلې او سنوسي مشران له خاورې وشړل شول.
دوه کاله وروسته پر ۱۹۳۴ ایټالوي دولت پر ترپیولیتانیا او سیرنیکا خپله بشپړه واکمني رامنځته او دا دوه سیمې د لیبیا په نامه د خپلې یوې ځانګې په توګه اعلان کړې.

**۲-د عمر مختار (رح) هیوادپاله جبهه:**
د عمر مختار پر ۱۸۶۲ کال په جبل الاخضر سیمه کې د یوې متدینې کورنۍ کره دې نړۍ ته سترګې پرانیستې، هغه چې په یوه اسلامي ښوونځي کې زده کړې کړې وې، د ټولو پیاوړي سنوسي عالم په توګه په جبل الاخضر کې د القصور خانقاه مشرۍ ته وټاکل شو او تر ۱۹۱۱ ز کاله پورې یې د خانقاګانو د نورو عالمانو په څېر پر خپلې دندې بوخت و، تر دې چې د لیبیا پر خاوره د ایټالوي یرغلګرو تېري دغه میړنی انسان اړ وېست چې د الله تعالی(ج) پر توکل او د پوره ایمان په ملاتړ وسله په ورغوي کې ونیسي او د اسلام د سرلوړۍ او د مسلمانانو د عزت لپاره د جهاد سنګر جوړ کړي.
په دې ډول هغه زهد او تقوا له جهاد سره ملګري او ښوونځي او خانقاوې د الله تعالی(ج) پر عبادت ځای سربېره د پردیو واکمنیو پر وړاندې د مسلمانانو پر جهادي ښوونځي هم بدل کړل.
عمر مختار رحمت الله علیه پر ۱۹۱۱ زېږدیز کال د هغو کسانو پرمټ چې د ده تر څار او هڅو لاندې روزل شوي ول، وکړای شول د اسلام د دښمن(ایټالیې) پر وړاندې یو لوی پولادي بدلون او له عزته ډک خوځښت پیل کړي.
هغه ویاړ چې دا زاهد سردار ترې برخمن و، دا و چې د لیبیا په خلکو کې یې ژور روحاني اغېز درلود.
د لیبیا د خپلواکۍ غورځنګ د عمر مختار په مشرۍ پر داسې مهال رامنځته شو چې عرب ملتونه؛ په ځانګړې توګه د لیبیا او مصر خلک د نسکوریدو او له منځه تګ له ګواښ سره مخامخ ول.

د عمر مختار په مشرۍ د خپلواکۍ غورځنګ په مسلمانو ځوانانو کې یو نوی دیني خوځښت راوست، ګڼ عرب لیکوال هم د سنوسیانو او خپلواکۍ غورځنګونه د عربو مسلمانانو په راویښولو کې یو اغېزناک لامل ګڼي.

عمر مختار یوازې د دیني فکر ورکونکو په ډله کې شمېرل شوی نه دی؛ بلکې د ده بوختیاوې د یرغلګرو پروړاندې په جهاد او ګام اخېستو کې هم هر د پام وړ وې.

په علمي مباحثو کې ګډون هم د ده روحاني اغېز ډېر کړی و، لنډه دا چې د عمر مختار په مشرۍ هېواد پاله غورځنګ له لیبیا څخه د ایټالوي یرغلګرو د وېستو په نیت رامنځته شوی و.

مختار د ژوند وروستي شل کلونه یې د جهاد په ډګر کې تېر کړل، په دې موده کې یې بېسارې زړه ورتیاوې او جګړه ییزې لارې، چارې ولیدل شوې.

دی به په ډېرو بریدونو کې مخکې او مجاهدین به ورپسې ول، د تندرونو په شان ناڅاپي بریدونو به یې په څو دقیقو کې په حیرانوونکې ډول دښمن ډېر شاتګ ته اړ او له تلفاتو سره مخ کړ.

د کرازیاني په نامه د یوه ایټالوي قومندان پر وینا په شلو میاشتو کې د دواړو لورو ترمنځ ۲۶۳ ځله جګړه شوې چې هرځل پکې د عمر مختار لوري دوی ته مرګوني ماتې ورکړې.

له همدې امله وه چې ایټالویانو عمرمختار پسې ډېره را اخېستې وه او په هره ښته کې یې هڅه کوله چې د هغه ډلې او په ځانګړې توګه خپله هغه ته کلک ګوزار ورکړي، خو مختار سنګروالو ته یې داسې جهادي ښوونه او روزنه ورکړې وه چې د اسلام دښمنانو په

سرتېرو ايټالوي پر هرځل دوی ،لی وند مو شو نه بری پرې سره اسانۍ

له خاوره ليبيا د چې هغې تر چې وو يې ولي تنګ او ل کو ونه بريد
لاس به جهاده له ،کړي نه لوا پ خ ترې ليبيا او پاکه څخه ايټالويانو
وانخلي.

يې ترمنځه دښمن او کونو خوا ډ د عمرمختار چې نښته ورستۍ
کې جګړه دې په ،وه مه ۱۱ سپتمبر د کال ز۱۹۳۱ د ،شوه رامنځته
شهيدان يې ډېر چې وو ملګري ين د مجاه ۵۰ ،ېدې نښ سره مختار له
پر او كولو نښه په آس د عمرمختار د دښمن كې يله پا په ،شول
مختار ،ونيو هغه وروسته كولو رامنځته تر تپونو د يې وجود
پوهيده نه هم يې يو هيڅ چې ونيو ئيانو پو ايټالوي مهال پرداسې
وي.(عمرمختار) ان قوماند ينو مجاهد د به ډېرى سپين شوى ل نيو چې

دعمرمختار د اعدام پريکړه:

ايټالوي پوځيانو ترنيونې وروسته عمرمختار څلور ورځې د بنغازي
په يوه زندان كې وساته او د ۱۹۳۱ز د سپتمبر د ۱۵مې تر
ماسپښين وروسته ۵بجې يې د هغه د اعدامولو امر وکړ ،کله يې
چې عمرمختار دار ته نږدې راوست ،په لوړ غږيې وويل: اوس د
ليبيا هر وګړى عمرمختار دی، تاسې نه پرېږدي چې پر ليبيا واکمني
وكړئ، نور مو وخت پوره شوی دی، څکه د ليبيا خلكو اوس د
خپلواكۍ درس زده کړی.

بالآخره عمرمختار(رح) د ۱۹۳۱ز د جون پر ۲۸مه د ايټالوي
يرغلګرو او د اسلام د دښمنانو لخوا د شهادت لوړې درجې ته
ورسول شو.

انالله وانا اليه راجعون.

تر هغې وروسته چې عمرمختار په شهادت ورسېد ،زرګونه لیبیایانو د هغه د غچ اخېستنې لپاره پر ایټالوي مورچو بریدونه وکړل ، زرګونه ایټالوي سرتېري يې دوزخ ته ولېږل او پرې يې نه ښودل چې د اسلام دښمنان د ارامۍ ساه واخلي.
دا خبره په ډاګه کوم چې د عمرمختار(رح) د وینو په پایله کې د اسلامي هېوادونو تاریخ رنګین شو او عمرمختار د ټولو مسلمانو ځوانانو او رېښتینو مجاهدینو لپاره د یووالي،ننګ او د بهرنیانو له منګولو د هېوادونو د خپلواکه کولو درس شو،پایله دا شوه چې د مختار پر پلونو د پل اېښودو په مټ لیبیایانو خپل هېواد له ایټالویانو څخه خپلواکه کړ.
د لیبیا له خپلواکۍ تر کودتا څو کړښې!
لیبیا تر خپلواکۍ وروسته له دې امله چې په دویمه نړیواله جګړه کې د الماني مارشال رومل او د هغه د ملګرو چوڼۍ وه،سختې ورانۍ ځپلی و،پر ۱۹۵۱ کال کله چې،ملک ادرېس د دې هېواد پاچاشو،لیبیا له هره پلوه سخت غریب و.
پاچا د انګلستان او امریکې پر اقتصادي مرستو هېواد اداره کاوه،پاچا ټول واک خپل کړی و، ډېرو وزیرانو يې سره له دې چې د اروپا او امریکا په پوهنتونونو کې زده کړې کړې وې،د فقر له لاسه ونه شو کړای، کومه مهمه چاره ترسره کړي.
خو پر ۱۹۵۹ کال په لیبیا کې د نفتو موندنې د دې هېواد اقتصاد ته يوه نوې ساه ورکړه،فرانسوي،انګلیسي او ایټالوي کمپنیو د دې نفتو په موندنه او ترې په ګټه اخیستنه کې لاس درلود .

امریکایانو لیبیا سره د اقتصادي مرستو په مټ وکړای شول، په دیلوس سیمه کې یوه هوایي اډه جوړه کړي، ځینې په دې اند دي چې د ۱۹۲۷ کال د جګړې پر مهال هم دا اډه فعاله وه.

د ۱۳۴۸ ل کال د وږي(سنبلې)د ۱۰مې او دوشنبې ورځې کودتا چې د ۱۹۶۹ز د سپتمبر له لومړۍ نېټې سره برابریده، پر داسې مهال وشوه چې پاچا ملک ادریس ترکیې ته د خپلې درملنې لپاره تللی و، کودتا یې سلطنت پای ته ورساوه، ډګرمن معمرالقذافي د ډګروالۍ رتبې ته په پرمختګ سره د هوایي ځواکونو د لوی قوماندان ډګرمن عبدالسلام په مرسته د انقلابي شورا مشر شو.

دوی د واکمنۍ د مشروعیت لپاره یې لومړی محمود سلیمان المغربي چې د جورج واشنګټن له پوهنتونه فارغ او یو مهال له ملک ادریس سره د مخالفت له امله بندي شوی و، لومړی وزیر وټاکه.

## شلورم څپرکی

## د لویدیځ پر وړاندې د یوازیني دبر سخت دریځ ابومنیارمعمرقذافي پېژندنه!

ابومنیارمعمرقذافي د ۱۹۴۲ د جون پر ۷مه سرت ښار ته نږدې د شطیب الکراعیه دښتې په یوه کېږدۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې، د هغه کورنۍ د قذافه په نامه د عربانو هغې وړې قبیلې سره تړاو درلود، چې د مېږو څرولو له لارې یې خپل ورځینی ژوند سمبالوه.

معمر قذافي د نوي زلمیتوب پرمهال یوې اسلامي مدرسې ته په لومړنیو زدکړو پسې لاړ، بیا یې منځنۍ زدکړې د یوه ځانګړې ښوونکي تر څار لاندې په مصراته کې پای ته ورسولې.

لس کلن قذافي خپل ایټالوي ښوونکي ته خبرداری ورکړ!

قذافي چې لس کلن شو، له روانې پلوه پریکنده او غوڅ دریځی و، له کوچنیوالي څخه یې سرکښه روحیه او لوړ ارمانونه لرل، دی پر همدې مهال پوه شوی و چې ایټالویانو پر لیبیا پوځي تېری کړی، لیبیا د ایټالویانو له لوري یرغمل شوی او ایټالویان هره ورځ د ماشومانو، ښځو او زړو په ګډون سلګونه لیبیایي وګړي شهیدانوي، جوماتونه او استوګنځایونه په اور سوزوي او د لیبیایانو ناموس او ارزښتونو ته تاوان اړوي، له دې امله قذافي د ایټالویانو پروړاندې حساسیت ښوده او له زړه نه یې کرکه ترې کوله.

قذافي له ایټالوي ښوونکو پرته له خپلو نورو ښوونکو سره ډېره مینه لرله، کله به چې ایټالوي ښوونکو یې درس ورکاوه، ده ملنډې ورپورې وهلې.

یوه ورځ قذافي په ټولګي کې ناست و، ناڅاپه یې د ایټالوي ښوونکي پام شو چې ملنډې ور پورې وهي، قذافي ورته وویل: له نفرته ډکه څېره لرې!

ښوونکي ورته وایي: زه درنه ډېره زیاته کرکه لرم!

قذافي ایټالوي ښوونکي ته یې په ځواب کې وایي چې زه له ټولو ایټالویانو نه کرکه لرم!

کله چې ښوونکي ترې وغوښتل، له ټولګي ووځي، قذافي وویل: وځې به ته، هم له ټولګي نه او هم له هېواده مې! ځکه تاسې ایټالویانو زموږ هېواد یرغمل کړی.

هغه مهال په عربي نړۍ کې مهمې پېښې کېدونکې وې، پر ۱۹۴۸ کال د اسراییلو پر وړاندې د عربو ماتې او پر ۱۹۵۲ ز کال په مصر کې د جمال عبدالناصر واک ته رسېدل په ژوره توګه قذافي اغېزمن کړی و.

قذافي د لېسې زده کړې په لیبیا کې پای ته ورسولې، ده د ټولنیزې او اقتصادي سوکالۍ فکر لرلو او همدا شان یې له اسراییلو سره د دښمنۍ خیال په ذهن کې غځونې کولې.

قذافي پر ۱۹۶۱ کال د بنغازي پوځي اکاډمۍ ته لاړ او پینځه کاله وروسته له ځینو نورو هم مهالو زدکړیالو سره یې یو ځای زده کړې پای ته ورسېدې.

قذافي د زده کړو په پای ته رسولو سره د لیبیایي پوځ له مخابراتي برخې او پر همدې مهال د خپلواکو افسرانو له غورځنګ سره یو ځای شو، دوی ته له همدې مهاله پوځ یو انقلابي مسلک و.

معمر خپلې نورې لوستنې (مطالعې) او زده کړې تر ډېره په اروپا کې وغځولې، په دې برخه کې د سند هرست سلطنتي پوځي پوهنتون ور ته د زده کړو وړاندیز وکړ، چې ویې نه مانه او پرځای یې د یونان د آتن ښار په یوه پوځي پوهنتون او د برتانیې په ځینو برخو کې ځانګېزې (مسلکي) زده کړې وکړې.

قذافي د اسلامي ګروهنو (عقیدو) لپاره یې په سلفي مشهوردی، د هغه زوکړه د انګلستان او فرانسې له هغې هڅې سره هم مهاله وه چې لیبیا یې د ایټالیې له ولکې بهر او تر خپلې ګډې واکمنۍ لاندې راوسته.

پر ۱۹۴۹ کال په دویم ځل لیبیا ایټالیې ته پرېښودل شوه او دوه کاله وروسته د امریکې، انګلستان او فرانسې تر ګډې ناستې وروسته لومړي امیرادریس سلطنت خپل کړ.

قذافي او د ۱۹۶۹ کال کودتا!

د ۱۹۶۹ز کال د سپتمبر پر لومړۍ ورځ د لیبیا د پوځي اکاډمۍ د درېیم ټولګي یو شمېر لږو زده کړیالو د معمر قذافي په مشرۍ د اویاکلن پاچا ملک ادریس پر ضد چې د درملنې په نیت ترکیې ته تللی و، له وینه تویېدنې پرته یوه کودتا پیل کړه.

د ملک ادریس ورا‌ره یانې سیدالمهدي السانوسي د پوځي افسرانو له لوري عزل شو.

قذافي دا مهال نېږدې ۲۷ کلن و او په کودتا کې د ونډه والو ملګرو په مرسته یې واک ته ورسېد.

د انقلاب په بريالیتوب سره يې له لويد يځوالو سره اړیکې راکمې او لـه انګلستان او امريکې سره ټولې اړیکې پرې کړې،د ليبيا خلکو هغه د مشر ورور او د انقلابي لارښود په لقبونو ياد او ومانه.

انقلابي مشر ځانګړې سياسي لاره غوره کړه،د پان عربيزم د شعار په ورکړې سره يې د متحده عربي هېوادونو ملاتړ پيل کړ،د مصر،ليبيا او سوريې د درې اړخيزې يووالي د ېرې هڅې يې وکړې،کله چې مصر له دې درې ګوني ګروپه ووت،تونس يې پرځای د ليبيا او سوريې ملګری شو،دا يووالی له يوه کاله ډېر ونه غځيده.

قذافي د ليبيا هېواد نوم د ليبيا د خلکو پرمتحد جمهوريت واړوه او د اسلامي سوسياليزم په نامه يوه وينا يې وکړه چې پر ۱۹۷۹ کال پخپل شين کتاب کې يې په بشپړه توګه خبرې پرې کړې دي.

ازادو أفسرانو له خپل بري سره سم د انقلابي شورا د قومندانانو په نامه يوه شورا جوړه ، په چټکۍ سره يې ټولې سيمې تر خپل واک لاندې راوستې او په ليبيا کې يې ټولې بهرنۍ پوځي چونۍ له منځه يوړې.

پردي بانکونه او سوداګريزې خونې يې ملي اعلان کړې،د مدرسو په نصاب کې يې د بهرنيو ژبو د زده کړې اصول له منځه يوړل او اعلان يې وکړ چې هيڅوک په ليبيا کې د فرانسوي،ايټالوي او انګريزي ژبې ښوونه نه شي کولای.

همدا شان يې د کارګرانو ټول ګوندونه او ټولنې ناقانونه وګڼلې.

قذافي او پلويانو يې د کودتا ښه مشري وکړای شوه، همدا لامل و چې له کومې وينې تويېدنې پرته بريالیتوب ته ورسېدل.

په ۱۹۷۳ کې لیبیا بدله شوه، له دې بدلونه زېږېدلی نظام تر پخواني نظام هم خورا سخت دریځی و، دې نظام خپل ټول مخالفین سملاسي تر نیولو وروسته بندیان کړل او د وزارتونو، مدرسو او نفتي شرکتونو د اداري لپاره یې ولسي کمېټې جوړې کړې.

دې نظام د همدې کال تر وروستیو وکړای شول چې ټولې مهمې اقتصادي هڅې تر خپلې ولکې لاندې راولي او په ملي کچه د خلکو اقتصادي وضعیت را ښه کړي، د دې سیاست په پایله کې د نظام مخالفین بېخي راکم شول.

د نظام سرلاری معمر القذافي چې اسلامي عربي ایډیالوژي یې لرله، له دې امله په اسلامي نړۍ کې د پام وړ ملاتړ خپل کړی و.

دی لومړنی کس و چې د اسلامي ایډیالوژۍ په اړه یې انقلابي لیکنې او هڅې وکړې، ده د مسلمانانو او عربو پر یووالي، د استعمار او صهیونیزم او په ځانګړې توګه د اسراییلو پر وړاندې پر مبارزې ټینګار کاوه.

ده د همدې ایډیالوژۍ پر بنسټ هڅه وکړه چې د لیبیا، مصر، سوریې، سوډان او تونس او نورو اسلامي او عربي هېوادونو تر منځ یووالی راولي، خو عربي هېوادونو نه غوښتل چې د قذافي هڅې عملي شي، له همدې امله هیڅ یوه دا هڅه پایلې ته ونه رسیده.

ابو مینار معمر قذافي د ۱۹۷۰ ز کال په لومړیو کې خپل نظر دریمه نړیواله نظریه او د کمونیزم او امپریالیزم ځای ناستی وګڼله.

ده پرلپسې ټينګار کاوه چې د ليبيا ټولنه بايد د قرآن او سنتو پر آرونو (اصولو) برابره له سره ورو زل شي، په همدې يې د دې آرونو خلافو چارو لکه: جوارۍ، شراب څښلو او زنا پرضد چې د عربي فرهنګ برخې وې، د مخنيوي هڅې وکړې.

د ده دريمه نړيواله نظريه په منځني ختيځ او ان په اسلامي افريقا او فلپين کې د امپرياليزم او صهيونيزم پرضد د جهاد غوښتونکې وه.

د افريقايي ټولنې د رهبر په توګه د قذافي ټاکنه!

معمر قذافي چې له ۱۹۶۹ کال راهيسې د ليبيا رهبر و، د ۲۰۰۹ په فبرورۍ کې د افريقايي ټولنې د دوره يي رهبر په توګه وټاکل شو.

ده د عربي ټولنې په ۲۱مه سرمشريزه کې چې د همدې کال د مارچ پر ۳۰مه وه، د اسلامي هېوادونو د يو موټي توب لپاره مهمه وينا وکړه چې د ټولنې د هرکلي وړ وګرځېده.

هغه همدا شان په ۲۰۱۰ کال کې د نړۍ له مسلمانانو وغوښتل چې د سويس پر وړاندې جهاد وکړي، ده دا ادعا هم وکړه چې که هر څېرته کوم مسلمان د سويس لپاره کار کوي، کافر او د محمد (ص)، الله (ج) او قرآن کريم دښمن دی.

سره له دې چې په رسمي توګه دی د ليبيا ولسمشر او د انقلابي شورا رهبر و، په حکومتي او دولتي رسنيو کې ((ستر انقلابي لارښود)) او نور ګڼ تشريفاتي لقبونه ورته کارول کېدل.

قذافي ځان او د نړۍ مسلمانان د ميدان ګټونکي ګاڼه او د کافرو ملګرتيا ورته ښه نه ښکارېده.

د لیبیا رهبر ډګروال قذافي یو له عجیبو او همدا شان په عربي نړۍ کې له پخوانیو رهبرانو ګڼل کیده، په لومړیو کې د ده کورنی نوم قذاف و خو چې واک ته ورسېد، قذافي تخلص یې غوره کړ.

دی واک ته په رسېدو سره له نورو دیکتارو نظامونو لکه: د ایران د پخواني پاچا او د سعودي عربستان نظامونو سره ښې اړیکې نه درلودې.

پر ۱۹۷۲ کال یې پینګنک ته سفر وکړ او د چین له ځواکمن مشر (مایوتسه تونګ) سره یې وکتل، له هغه سره یې تر نظر بدلوني وروسته ورته وویل: زه یوازې د یوه څه لپاره دلته راغلی یم، او هغه دا چې تاسې مې هېواد سره د هستوي بم په جوړولو کې مرسته وکړئ، یا د اټومي بم جوړولو د کارخونې وسایل راکړئ څو لیبیا وکړای شي یوه ورځ د هستوي هېوادونو په ډله کې وي، که اړتیا ولیدل شي، د اسراییلو پر وړاندې له دې بمونو کار اخلم.

د لیبیا د هستوي وسلو پروګرام

قذافي د هستوي وسلو د رامنځته کولو لپاره خپلې هڅې له ۱۹۷۲ز کال څخه پیل کړې، له دې هڅو څخه کېدای شي له چین څخه د هستوي وسلو هڅه یې یاده کړو.

تر اوسه د نړۍ څو هېوادونه له لیبیا سره د شیمیایي وسلو په برخه کې د لاسنیوي له امله تر قانوني پلټنو لاندې راغلي.

یو ځل تایلنډ رپوټ ورکړ چې څو وګړو یې یوه لیبیایي شرکت سره په دې برخه کې مرسته کړې.

المان هم د یورګن هیپین استایل په نامه یو وګړی یې چې سوداګرو، په ورته تور پر پینځه کلن بند محکوم کړ.

د شیمیایي وسلو د څارنې ډلې په ۲۰۰۴ کال کې ومنله چې لیبیا ۲۳ ټنه ګاز او تر ۱۳۰۰ ټنو ډېر پر شیمیایي توکیو د سمبالو وسلو ګران بیه زېرمې لري.

د قذافي کورنۍ

قذافي په کورنۍ کې يې ډېر نرم او ښه چلن درلود، دده چې کله واده وکړ، مېرمنه يې د مدرسې ښوونکې وه.

دوی تر واده وروسته ډېر سره نه وو کتلي، د ډګروال قذافي واده ښه په لوړه کچه وشو، خو په ناڅرګند لامل دا او مېرمنه يې شپږ میاشتې وروسته سره بېل شول، له دې مېرمنې څخه قذافي د محمد په نامه یو زوی لري.

محمد قذافي:

محمد لکه چې ووېل شول، د قذافي د لومړۍ ښځې اولاد دی، دی د لیبیا د المپیک ملي کمېټې رییس او د مخابراتو او پست ادارې مشر هم دی.

صفیه فرکاش:

صفیه فرکاش د ښاغلي قذافي دویمه مېرمنه او د اوو اولادونو مور ده.

قذافي او صفیې همدا شان د میلاد او حنا په نومونو یو هلک او یوه نجلۍ د فرزندي اولادونو په توګه منلي وو چې حنا پر طرابلس د امریکایانو د ۱۹۸۶ کال په بمبار کې ووژل شوه.

**د قذافي اولادونه:**

معمر له خپلو دواړو ودونو څخه د محمد قذافي، سیف الاسلام قذافي، ساعدي قذافي، معتصم بالله قذافي، هانیبال قذافي، شهید

سیف العرب قذافي، خمیس قذافي، میلاد قذافي او عایشې قدافي په نومونو ۹ اولادونه پیدا کړي.

دی د دې ټولو له منځه پر دویم او څلورمو زامنو یانې سیف الاسلام قذافي او معصتم بالله قذافي ډېر ویاړ کاوه.

سیف الاسلام د منځني ختیځ تر دویمې جګړې وړاندې له هېواده بهر زده کړې وکړې او پلار پرې ډېر ګران دی، پر انګرېزۍ روانې خبرې کوي، د لندن پوهنتون له اقتصادي ځانګې څخه یې د نړیوالې پراختیا دوکتورا اخیستې، همدا شان په انجینرۍ کې هم د کارپوه په توګه سند لري.

دی په ټوله کې له هغو کسانو ګڼل کېږي چې د لیبیا أقتصادي خپلواکي غواړي.

سیف الاسلام د قذافي نړیوال خیریه بنسټ مسول هم دی، دې بنسټ له یرغملګرو څخه د یرغمل شوو په راخلاصون او ځانګړي ډول په فلپین کې ډېرې هڅې کړي.

په ۲۰۰۲ کال کې د ناڅرګند لامل له مخې هغه له لیبیا څخه ووت خو بیرته ور ورګرځېد.

سیف الاسلام قذافي په ۱۳۸۲ کال کې له فرانسوي ولسمشر نیکولا سرکوزي سره د لیدنې پر مهال څو اقتصادي تړونونه چې یوه برخه یې د توغندیو پېرودل وو، لغوه کړل.

کله چې د لیبیا د حکومت پرضد بغاوتونو زور واخېست او امریکې پر لیبیا پوځي برید پیل کړ، سیف الاسلام قذافي د لیبیا په تلویزون کې راڅرګند او له خلکو وغوښتل چې باید واقعیتونه وپېژني او د اسلامي نړۍ حالات له پامه ونه غورځوي.

ده خلکو ته وویل چې که داسې وکړي ښايي وپوهېږي چې له امریکا سره نه یو لاس کېدل به یې د لیبیا او مسلمانانو په گټه وي.
سیف الاسلام په لیبیا کې د الجزیرې او بي،بي،سي رسنیو پر خپرونو هم بندیز ولگاوه.
د قذافي دا زوی چې د لیبیا د یوې روښانې اندې څېرې په توگه یادېږي،په ۲۰۰۸ ز کال کې اعلان وکړ چې د پلار د واک میراثي کېدو سره لېوالتیا نه لري.
هغه د لیبیا د وروستیو نارامیو په ترڅ کې خبرداری ورکړ چې ښايي په دې هېواد کې کورنۍ جگړه رامنځته شي.

ساعدي قذافي:
ساعدي قذافي له وړوکتوبه له ټولو لوبو(ورزشونو)سره مینه لرله خو فوټبال یې په ځانگړې توگه خوښیده.
ساعدي اوس ۳۶کلن دی او د یوه پوځي قومندان له لور سره یې واده کړی.
دی مخکې د یوې لنډې مودې لپاره د ایټالیې د فوټبال لیگ په یوه لوبډله کې ولوبیده،اوس د لیبیا د فوټبال فدراسیون رئیس دی،د فوټبال د لوبې پر مهال د ملي لوبډلې کپتان و.
له فوټبال لوبې په لاس اخیستو سره ساعدي د فلم جوړونې په صنعت کې هم بوخت و او په ښکاره یې د یوه الماني په اړه پر جوړشوي فلم سل میلونه امریکایي ډالره پانگونه وکړه.
معتصم بالله قذافي:

معتصم بالله قذافي د ډګروال قذافي څلورم زوی دی،ده يو مهال له اسراييلو سره پټې اړيکې لرلې خو ښرګنده نه شوه چې موخه يې څه وه؟له اسراييلو سره يې مرسته کوله او که د اسراييلو د پټو استخباراتي مالوماتو د لاسته راوړلو لپاره يې دې اړيکو ته غاړه اېښې وه.

ولسمشر يې چې له دې چارو خبر شو،د هېواد په دولت کې يې ځينې مهم مسوليتونه ور وسپارل او له استخباراتي اړيکو يې را وګرځاوه.

معتصم بالله هم د ليبيايي رهبر د نورو زامنو په شان د دولت پر مهمو څوکيو دندې درلودې،د پوځ دويم ډګروال و او وېل کېږي چې کلونه وړاندې يې د پلار پر ضد د يوې کودتا د پلان د طرحې تر ډاګيزو کېدو وروسته مصر ته وتښتيد ،خو کله يې چې پلار ښښنه ورته وکړه ،بيرته هېواد ته ستون شو.

معتصم بالله قذافي د پلار د واکمنۍ په وروستيو کلونو کې يې د ليبيا د ملي امنيت سلاکار او د پوځ د يوې ځانګړې برخې قومندان و.

هانيبال قذافي:

هانيبال قذافي د ليبيا د لېږد رالېږد ملي سمندري شرکت سره دنده لرله او پکې د ليبيا د نفت لېږدونې مسوليت يې پر غاړه و.

وېل کېږي چې هغه څو ځلې د تاوجنو پېښو پر وړاندې له صبر او زغمه کار واخېست چې د بريالیتوب لامل يې شو.

هانيبال لکه د پلار يې داسې ځانګړنې لري، يو پريکنده او پرځان ډاډمن سړی دی،تولې چارې يې د قانون پر بنسټ مخته وړلې.

هغه په ۲۰۰۸ کال کې په سویس کې وروسته تر هغې چې د دوو نارینه خدمتګارانو د شکایت له امله یې چې ویل یې ،ده پرې برید کړی و ،ونیول شو.

د قذافي زوی چې خدمتګاران یې خپلو خبرو ته په سپکاوي تورنول ،په ضمانت له بنده خوشې شو ،خو دا پېښه د دې لامل شوه چې لیبیا له سویس څخه دغه هېواد ته پر ورتلونکو توکیو بندیز ولګوي او له خپلې خاورې سویسي شرکتونه وباسي.

لیبیا له سویسه خپل دیپلوماتان هم را وغوښتل ،هانیبال سویس ته د نړیوالې مافیا نوم ورکړ او ویې ویل چې دا هېواد باید تجزیه شي.

شهید سیف العرب قذافي:

سیف العرب قذافي د قذافي یو پیاوړی زوی و چې په ډېرو مهمو چارو کې به یې پلار ته مشورې ورکولې.

د ډیلي تلګراف ورځپاڼې د لیکنې له مخې ،هغه په ۲۰۰۸ کال کې په مونیخ کې زدکړې
کولې.

باید وویل شي چې کفارو د خپلې تاریخي دښمنۍ پر بنسټ د ۱۳۹۰ل کال د غویي(ثور)پر ۱۱مه د یوه بشرضدي چارې په توګه د سیف العرب قذافي پر کاله د ناټو ځواکونو پر مټ بمونه وغورځول او دی یې پکې شهید کړ.

هغه ،هغه شپه د کورنۍ غړو سره یې ویده و ،چې صلیبي چورلکو یې له فضا څخه پر کاله بمباري وکړه ،خپله ابومینار قذافي د الله

تعالی(ج)په فضل ژوندی پاتې شو ،خو سیف العرب او درې زامن یې شهیدان شول.(انالله وانااليه راجعون)

خميس القذافي:

د ابومينار قذافي دا زوی د يوه پوليس افسر په توګه د ليبيا په کورنيو چارو وزارت کې خپلو خلکو ته خدمت کاوه ،هغه پوځي زدکړې په روسيه کې کړي،خميس قذافي يو ښک اخلاقي خو په چارو کې يې ډېر پريکنده سړی دی.

هغه د ځانګړو ځواکونو قومنداني پر غاړه لري.

ده چې په بنغازي کې له نيوکه کوونکو سره د سوله ييزو هڅو قومنداني هم کوله،نيوکه کوونکو ته په يوه ليک کې وليکل:زما ورونو!راځئ چې له يو بل سره سوله ييز چلن وکړو،ځو پوه شوو چې د ليبيا د بچيانو په توګه چې کوم کار تاسې پيل کړی،سم دی؟

آيا په اوسني چلن سره به مو ردانه ليبيا ورانه نه شي؟نو راځئ چې سره خبرې وکړو،سره يو لاس شوو او پرې نه ږدو چې د هېواد واګې مو د صليبيانو تر لاس لاندې عربو ته پاتې شي.

ميلاد قذافي:

ميلاد قذافي د قذافي فرزندی زوی دی،هغه په ۱۹۸۶ کال د وحشي ډولو امريکايانو له هغې بمبارۍ څخه په ډېرې هوښيارۍ سره د ليبيا رهبر په پوره ډول وژغورلای شو،چې پر استوګنځای يې ترسره شو.

له همدې امله ميلاد د ليبيا د خلکو په منځ کې ډېر منل شوی او له ډېر درناوي څخه برخمن دی.

عايشه قذافي:

عایشه قذافي دلیبیایي رهبر ۳۴ کلنه لور ده، هغه د عراق د پخواني ولسمشر شهید صدام حسین د مدافع وکیلانو د ډلې حقوقي سلاکاره وه.

هغې پر ۲۰۰۲ کال د پلار له یوه خپلوان سره یې واده وکړ.

عایشه په لیبیا کې د (واعتصمو) خیریه بنسټ مشره او همدا شان د ملګرو ملتونو د پرمختګ او پراختیا سفیره وه.

دا په حقوقي برخه کې د عربو ښځو او ګاونډیو هېوادونو په کچه ځانګړی نوم لري، د پلار لخوا یې د صدام حسین پرضد د جوړې شوې دوسیې ننګونې ته وګومارل شوه، د دې او د صدام په ننګه د نورو داسې ډلو مالي ملاتړ هم معمرقذافي کاوه.

عایشې د شهید صدام حسین په ننګه د نورو نړیوالو وکیلانو په شان په پوره هوښیارتیا سره وکړای شول له صدام شهید څخه ننګه وکړي خو په خواشینۍ سره چې د اسلام دښمنانو د ټولو نړیوالو وکیلانو خبرو ته غوږ کېنښود او د صدام پر ګټلو ته یې سلګونه له ځانه جوړ کړې دوسیې وکارولې، تر هغې چې د هغه تاریخي اتل د اعدام امر یې وکړ او په لوی اختر کې یې هغه پر دار وځړاوه.

قذافي د صدام له اعدامیدو سره په لیبیا کې درې ورځینی ماتم اعلان او په دې موده کې یې بیرغ نیم ځوړنده کړ.

د اسلامي هېوادونو مشران باید پوه شي چې یا به د صلیبانو لاسپوڅي وي، او یا که د شهید صدام او قذافي په شان یې خپل خلک او هېواد د پردیو له اغېزه خوندي وساتل او د امریکا پر وړاندې یې لږه خبره وکړه، د عراق، افغانستان، لیبیا، فلسطین، پاکستان او څو نورو اسلامي

هېوادونو غوندې به يې خلک له هوا او ځمکې دواړو د امريکايانو تر بمباريو لاندې راشي.

## د ډګروال قذافي ساتونکې

له ډګروال قذافي سره تل ښځینه پولیسانې چې اکثره يې د هغه ځاني ساتونکې وې، ګرځیدې.

په دې اړه په ورځپاڼو کې نوي مالومات خپاره شوي او د دې ښځو کړنې يې په ډاګه کړي.

ويل کېږي هغه څلور ښځې چې تل به په قذافي پسې روانې وې، د نورو ساتونکو په څېر يې پوځي يونيفورم پر ځان و، د دې په خوا کې چې پوځي زده کړې يې لرلې، د قذافي پالونکې هم وې او د قذافي شخصي چارې يې سرته رسولې.

د قذافي يو آړ(شرط) چې د ساتونکې ښځې لپاره يې ټاکلی و، دا و چې ورسره د دندې تر مهاله هيڅ کومې بهرنۍ استخباراتي کړۍ سره اړيکې نه شي نيولی.

دوی زده کړې وو چې څنګه د ليبيا د رهبر ساتنه وکړي.

دوی همدا شان له رسنيو سره د خبرو او ورته د رهبر په اړه د پټو مالوماتو د ورکولو حق هم نه درلود.

يوې وېبپاڼې په تازه رپوټ کې ويلي چې د قذافي ټولې ساتونکې په خورا پر مختللې کچه پوځي زده کړې او کرکټرونه لرل او همدا لامل و چې هغوی په ډېرو سفرونو ان نړيوالو سفرونو کې هم له قذافي سره ملګرې وې.

قذافي پر خپلو ساتونکو تر دې کچې ډاډ درلود چې ويل کېږي يو ځل دی پرتګال ته تر رسمي سفر وروسته امريکامتحده ايالاتو ته د

ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته د وينا لپاره ته، خو کله چې يوې ساتونکې ته يې د اداري ستونزو له امله ويزه ورنکړل شوه، څو ساعته وروسته ورپسې د ليبيايي رهبر ځانګړې الوتکه له ليبيا حخه پر نګلڼ ته را ورسېده.

ليبياييان د قذافي له خولې وايي: نجونې د نارينه وو په پرتله زړه سواندې دي او کله هم پر پيسو جوړه، جاړی نه کوي، همدا راز ما د دې لپاره چې د ښځو او نارينه وو د حقونو يو توازن مې ساتلی وي، نجونې مې خپلې ساتونکې ټاکلې، څو نړۍ او کفري هېوادونه پر ليبيا نيوکه ونه کړي چې د ښځو حقونه يې پايمال کړي.

بايد ووايو چې دا هماغه لويديزوال دي چې د ښځو حقونه يې له پامه غورځولي او پرې فزيکي، جبري او له انساني ارزښتونو او کراماتو هاخوا چارې سرته رسوي.

قذافي ويل: تاسې پوهېږئ چې کفري هېوادونه هره ورځ سلګونه ځله د ليبيا پر ښارونو؛ په ځانګړې توګه پر طرابلس بريدونه کوي، خو د الله تعالی(ج) په مرسته پر ما هيڅ کوم اغېز نه کوي، ټولې ساتونکې مې د عايشې په شان لوڼې دي او تل مې د پلار په نامه يادوي.

په يوه مصري ورځپاڼه کې د دې ښځينه ساتونکو د جامو يادونه هم شوې:

((هغوی کله هم د نارينه ساتونکو په شان په شخصي جامو کې نه ګرځي، تل يې پوځي جامې اغوستې وي، دا جامې له تر ټولو غوره ټوټو څخه ګنډل شوي، د معمر قذافي د ساتونکو د جامو بيه تر څلورو زرو امريکايي ډالرو ډېره ده، په دې کې له پوتين توکيو څخه کار اخېستل کېږي.

د دې پوتینو ګنډل داسې شوي وي چې کله یې هم پښې نه په عذابوي، کله چې د کومې ساتونکې د ورځینې کار وخت پای ته رسیږي، بیا هم باید په تیارسۍ حالت کې وي، ځکه کېدای شي هره شېبه قذافي چېرته لاړ شي.))

خبري سرچینې وایي: د قذافي ساتونکې د هغه ځانګړې روزنځي(انستیتوت)له لوري ټاکل کېږي چې یوازې یې د هغه د ساتونکو روزنه کوله، ټاکل شویو ساتونکو ته سوګند ورکول کېده چې د ژوند تر پایه به قذافي ته ژمنې پاتې کېږي.

د قذافي یوازینۍ لور عایشه هغه ته خورا ګرانه وه، همدا لامل و چې نجونې یې د ځان ساتونکې کړې وې، پر هغو ټولو یې د عایشې نوم اېښې او د لومړۍ، دویمې، درېیمې... عایشې په نومونو یې یادولې.

قذافي ویل: هره یوه ساتونکې یې ور ته د عایشې په شان ګرانه ده او دوی مې هم لکه د خپلو پلرونو غوندې ساتنه کوي، زه هم د پلار په شان امر پرې کوم او پرې ډاډمن یم.

## د قذافي دوه ډېر مهم ټکي

د لیبیایي رهبر دوه تر ټولو مهم ټکي دا وو چې رتبه یې ډګروالي وه او د ژوند تر وروستیو او د واکمنۍ په موده کې یې هم په کېږدۍ کې ژوند تېراوه.

قذافي له ۱۹۶۹ کال یانې له کومې مودې راهیسې چې واک یې لاسته ورغلی و، تر مرګه پورې د ډګروالۍ رتبه لرله، سره له دې چې د لیبیا دولت څو ځلې خپل رهبر ته د هغه د رتبې د لوړولو وړاندیز

چې ما داسې څه نه دي کړي
وکړ، خو قذافي يې په خوب کې ويل، چې ما داسې څه نه دي کړي چې پوځي رتبه مې پرې لوړه شي.

قذافي د واکمنۍ له پيله يې د نړۍ د نورو رهبرانو خلاف د واکمنۍ په اوږده موده کې هم خپله پلرنۍ کېږدۍ خوښوله او د دنګو ماڼيو مينه وال نه و.

خپل کورني او بهرني مېلمانه يې هم په همدې کېږدۍ کې ليدل، تر دې چې بهرنيو هېوادونو ته يې هم کېږدۍ له ځانه سره وړله، قذافي خپل بچيان هم په کېږدۍ کې ساتل.

ده په ۱۹۸۲ ز کال کې هم خپلې ځاني او رسمي چارې په همدې کېږدۍ کې سر ته رسولې.

د قذافي د بشري حقونو نړيواله جايزه

په ۱۹۸۸ ل کال کې د بشري حقونو نړيواله جايزه د ليبيايي رهبر معمر القذافي له لورې د لس ميلونه امريکايي ډالرو په ارزښت سره ثبت شوه.

دا کلنۍ جايزه هغو کسانو او ټولنو ته چې د بشري حقونو لپاره يې د پام وړ هڅې کړې وي، ورکول کېده ، د دې جايزې مالي ارزښت ۲۵۰۰۰۰ امريکايي ډالروه.

د دې جايزې د ګټونکو نوملړ

نلسن منډيلا-۱۹۹۸

د فلسطيني ماشومانو په نامه ۱۹۹۰

د بومي امريکا خلکو ته ۱۱۹۹۱

د امريکا اصلي وګړو ته ۱۹۹۲

د هرزګونيا بوسنا خلکو ته ۱۹۹۳

د امریکا د بشري حقونو ټولنو ته ۱۹۹۴

حمد بن بیلا(د پرتګال پخوانی ولسمشر)۱۹۹۵

لویس خان(د مسلمانو ټولنو رهبر)۱۹۹۶

د ښځو د خپلواکۍ او حق غوښتنې مبارزې مخکښانو: ګراسیلین اسمال ود، ملچابراند ادای، ملباهرنانډز، منال یونس، عبدالرزاق او دورین مک نالي!۱۹۹۷

فیدل کاسترو ۱۹۹۸

د عراق ماشومان۹ ۱۹۹

سهي فواز بشارت(لبنانۍ اتله ښځه)، جوزف کي زربو، ایفو مورالس ۲۰۰۰

څو نړیوال لیکوال(مامادو، دپایي، روګر ګراویدي، ابراهیم الکاني، جان زیګر، ندین البیتار، علي محمد المصراتي، خیفا محمد اطلیسي، محمد احمد الشریفي، علي فهمي خشیم، رجب مفتاح ابودابوس، محمد مفتاح الفطوري، علي سودګي عبدالقادر او احمد ابراهیم الفاجي)۲۰۰۱

شودا(د کلیساګانو یو مشر)۲۰۰۳

هوګوچاویز(دونزویلا ولسمشر)۲۰۰۴

مهاتیر محمد بن محمد ۲۰۰۵

په ببنښې سره چې د ګټونکي نوم یې ونه موندل شو- ۲۰۰۶

د تیمبوکتو کتاب ۲۰۰۷

داوم منتاف ۲۰۰۸

خوزه دانیل(د نیکاراګوا ولسمشر)۲۰۰۹

رجب طیب اردوغان ۲۰۱۰

## پینځم څپرکی

## د لیبیا اقتصاد

لیبیا د یوه پلان شوي اقتصاد لرونکی هېواد دی چې د قذافي سوسیالیستي نظرونه یې بنسټ جوړوي.

دا اقتصاد له کورنیو نفتو سره چې تر نیمایي ډېري لېږدوني (صادرات) جوړوي، تړلی دی.

د وګړو کموالی هم یو له هغو لاملونو څخه دی چې د افریقایي هېوادونو په کچه یې د لیبیا اقتصاد ښې کچې ته رسولی.

باید ووایو چې لیبیا د افریقا په شمال کې د مدیترانې سیند سره خوا کې پروت هېواد دی او د دې وچې د عربي هېوادونو په ډله کې راځي.

دا هېواد د مصر، سوډان، چاد، نایجیریا، الجزایر او تونس هېوادونو ګاونډی دی.

د پراخوالي له پلوه د نړۍ اوولسم هېواد دی، کورني ناخالص تولیدات یې اته اویا عشاریه نهه اویا میلیارده امریکایي ډالره دي او کاري ځواک یې له یو میلون او دوه اتیا زرو کسانو څخه رامنځته شوی.

د وزګارتیا بیه په لیبیا کې د ېرش په سلو کې ده او اوه عشاریه څلور سلنه خلک یې په فقر کې ژوند تېروي.

په ۲۰۰۷ زېږدیز کې د دې هېواد د تورم بیه درې عشاریه درې اټکل شوه، د لیبیا پولي واحد لیبیايي دینار دي چې یو دینار یې د اماراتو د زر درهمو او ۸،۵۰۸ ریالو معادل ده.

د لیبیا د شمال او ساحلي کرښې په ګرمسیرو او معتدلو سیمو کې بېلا، بېل کرنیز توکي تولید او محصولات یې ایټالیې، فرانسې او یونان ته ورل کېږي.

پر دې سربېره د بنغازي، مصراتې، طرابلس، زواره، زاویته ، طبرق په بندرونو او په ځانګړې توګه د خلیج سرت په ساحل کې د ګرځندویۍ بېلا، بېلې سیمې موجودې دي، دلته اروپایي ګرځندویان په پسرلي او ژمي کې تګ، راتګ کوي.

د لیبیا سوېل وچواو صحرایي سیمو نیولې خو دغلته هم د نفتو پیاوړې سرچینې لري، له دې ځایه نفت د نل لیکې له لارې د مدیترانې ساحل سره د لیبیا شمال ته د تصفیې لپاره لېږدول کېږي.

په دې هېواد کې ۴۸۳زره ټلېفوني مزې او درې میلونه او ۹۲۸زره ګرځنده ټلیفونونه موجود دي.

په لیبیا کې ۲۴ انټرنېټي کمپنۍ او ۲۳۲زره انټرنېټ کلپونه موجود دي.

د مصنوعي رود خونې پروژه:

دا پروژه په انجینرۍ کې د انسانانو تر ټولو لویه پروژه په دې ګڼل شوې چې تر ځمکې لاندې د یوې غځېدلې نل لیکې په توګه یې ساري نشته، په دې پروژه کې ۱۳۰۰ څاګانې شاملې دي چې ډېرې یې تر ۵۰۰ مترو ډېر ژورې دي، له دې پروژې څخه هره ورځ ۲۵۰۰۰۰۰ متره مکعبه د څښاک اوبه له رود خونې څخه طرابلس، بنغازي، سرت او شمالي لیبیا ته لېږدول کېږي.

د لیبیا رهبر ډګروال ابو مینار معمر قذافي دغه طرحه د نړۍ له اوه ګونو عجایبو څخه ګڼلې، د دې پروژې لګښت ۲۵ بلیونه امریکایي ډالره دی چې ټولې دا پیسې له کوم بهرني ملاتړ پرته خپله د لیبیا له کورنیو سرچینو څخه پوره شوې.

دا پروژه په ۲۰۰۸ کال کې په ګنس کتاب کې هم د اوبو رسونې د ترټولو لویې نړیوالې پروژې په توګه ثبت شوې.

معمر قذافي د دې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې چې د ډېرو لیبیایانو او بهرنیو مېلمنو په ګډون ترسره شول، وویل: دا پروژه امریکایانو ته تر ټولو لوی ځواب دی، د دې لپاره چې امریکا موږ ترهګر او د ترهګرو ملاتړي ګڼي، امریکا باید وپوهېږي چې هېڅ هېواد خپلو دروازو ته د ترهګرۍ د لار موندنې لپواله نه دی، بلکې غواړي چې د ترهګرۍ رېښې ختمې او نړیوال یې له شره خوندي واوسي.

صادراتي محصولات:

د لیبیا صادراتي محصولات خام نفت، پتروشیمي اشتقاقي محصولات، طبیعي غاز او شیمیایي توکي دي چې ایټالیې ته (۳۶،۷)، المان ته (۱۴،۳) اسپانیې ته (۸،۷) امریکا ته (۶،۱) فرانسې ته (۵،۶) او ترکیې ته (۵،۳) سلنه صادرېږي.

وارداتي محصولات:

د لیبیا وارداتي محصولات ماشین آلات، مصرفیدونکې جامې، خوراکي توکي او د لېږد، رالېږد تجهیزات دي چې له ایټالیې څخه (۱۸،۹) له المان څخه (۷،۹) له تونس څخه (۶،۳) له فرانسې

ثخه(۲، ۵)له ترکیې ثخه(۲، ۵)له امریکا ثخه(۷، ۴)له سویلي کوریا ثخه(۴، ۳)او له برتانیې ثخه (۴په سلو کې)وارد یږي.

د لیبیا د تلسکوب ملي پروژه:

دا تلسکوب د دوه متره پراخوالي او له لرې د کابو کېدونکي سېستم په لرلو سره د REOSC فرانسوی کمپنۍ له لورې جوړ شوی.

نوموړی تلسکوب د لیبیا د ملي هوا پېژندنې شبکو په ځانګړې ودانۍ کې ځای،پرځای شوی او د هوا پېژندنې کارکوونکي او لیبیایي پوهان ترې د کال په څلورو واړو موسمونو کې ګټه اخلي.

دا تلسکوب چې له سمندر څخه ۲۲۰۰ متره لوړ ځړول شوی، په ۲۰ کیلومتره واټن کې هم د کارونې وړ دی او په شمالي افریقا کې د تلسکوبي سېستمونو په سر کې راځي.

د دې تلسکوب له جوړولو څخه د معمرقذافي لویه موخه داوه چې لیبیایي پوهان یې په مټ سپوږمۍ ولیدلای شي،ځکه په ځینو کلونو کې د اختر او روژې پرسر د عالمانو ترمنځ اختلافات توکېدل،قذافي د لس میلونه یورو په پانګونې سره وکړای شول چې د لیبیایي عالمانو په منځ کې د دې اختلاف مخه ډبه کړي،اوس دوی په اسانۍ سره

سپوږمۍ لیدلی شي،تر دې چې که اسمان لږ وریځ هم وي.

## شپږم څپرکی

## د امام موسی صدر قضیه

دامام موسی صدر ستراتیژیکه موخه دا وه چې د لبنان شیعه ګان پر نورو طوایفو پیاوړي وښيي او دوی د هغه هېواد په ټولو سیاسي، ټولنیزو، فرهنګي او اقتصادي ډګرونو کې وړاندې ولري.

ده د ۱۳۳۸ په ژمي کې لبنان ته د هجرت په لومړیو ورځو کې د (خبرو، جوړجاړي او یووالي) د شعار په وړاندې کولو سره د هغه هېواد له مسیحي او اهل سنت مشرانو: مطران یوسف الخوري، مطران جرج داد، شیخ محی الدین حسن او نورو سره اړیکې جوړې کړې.

په لبنان کې د دوه لسیزې استوګنې پر مهال د اسلامي عالمانو هیڅ کومه داسې د خوښۍ او خپګان را ټولیدنه نه وه چې، امام صدر او ورسره همغږې د مسیحیانو او اهل سنتو څو مشرانو دې پکې ونډه نه وي اخیستې.

د ۱۳۴۱ په اوړي کې، په صور ښار کې له یوه مسیحي شیریخ پلورونکي څخه د امام صدر خوانمردانه ننګه چې د یوې فتوا له لارې اهل کتاب ټول غوره وګڼل، د لبنان د ټولو مسیحي ناستو، ولاړو پام ځانته واړوه.

د همدې اوړي په وروستیو کې مطران ګریګوار حداد صور ښار ته راغی او امام صدر یې د ټولنیز خوځښت غړیتوب ته وباله، هغه د ۱۳۴۱ له لومړیو څخه د مسیحانو په کلیساګانو او نورو فرهنګي او دیني ناستو، ولاړو کې په پراخه کچه برخه واخیسته.

د ۱۳۴۱ او ۱۳۴۲ کلونو پر مهال د لبنان د شمال او سوېل په دیرالمخلص او مارمارون په مسیحي کلیساګانو کې د امام موسی صدر تاریخي ویناوو د دغه هېواد پر مسیحیانو ژور معنوي اغېز وکړ.

د امام موسی صدر د تښتونې قضیه:

په ۱۳۵۷ کال کې امام موسی صدر له عربي هېوادونو څخه د خپلې دوره یي لیدنو په وروستیو کې په دې ګومان چې د لیبیا د خپلواکۍ په ویاړ جشن کې په ګډون سره به د اسلامي نړۍ له یووالي سره مرسته وکړي، طرابلس ته د خپل سفر تیاری ونیو.

هغه د معمرقذافي په رسمي بلنه لیبیا ته لاړ، خو د همدې کال د وږي پر نهمه وتښتول شو، تر دې پېښې وروسته د لیبیا رهبر معمرقذافي په طرابلس ښار کې پخپله کېږدۍ کې په دې اړه د امنیتي چارواکو یوه پټه غونډه هم وکړه، په دې غونډه کې د ایراني پاچا پر وړاندې د ولسي مبارزو څېړنه هم وشوه، د قذافي شننه دا وه چې که د ایران اسلامي انقلاب بریالی کېږي، ژورې اغېزې به یې پر ټولې سیمې، په ځانګړې توګه؛ پر منځني ختیځ پرېوځي.

دا مهال د پاچا د پرځونې لپاره د ایران د انقلابي ځوانانو پاریدلي احساسات لوړې کچې ته رسېدلي وو او وړاندوینه کېده چې عراق، فلسطین، اردن، سوریې، لبنان، لیبیا او بیا پاکستان او ان د شوروي ټلوالې مسلمانو هېوادونو ته هم وغځېږي.

په لیبیا کې ګومان کېده چې که د ایران اسلامي انقلاب بریالی شي، د ایران او لبنان په همغږۍ به په سیمه کې یو نوی قوت راځرګند شي، قذافي له دې امله خورا اند ښنمن و.

د لبنان او ایټالیې قضایي ډلو او همدا شان د واتیکان څېړنو د لیبیایي رژیم دا ادعا چې ګوندې امام موسی له لیبیا څخه تر لادرکه کېدو وړاندې وتی او روم ته تللی و، په کلکه رد کړې.

څه موده وړاندې د پټو اطلاعاتو یوې څرګندې شوې برخې هم دا ناسمه ګڼلې چې ګوندې امام صدر له لیبیا څخه وتی و.

نورو بېلا، بېلو سرچینو هم په ډاګه کړې چې امام موسی تر لادرکه کېدو وړاندې هماغسې ژوندی او د ډېرو نورو په شان د قذافي د دایمي بندي په توګه سختۍ ګاللې.

د امام موسی صدر زوی هم په دې برخه کې ویلې چې د لیبیا دولت او معمر قذافي د خپلې دې دعوې د زباتولو زیاته هڅه کړې چې امام موسی صدر په ۸۸۱ شمېره الوتنه کې ایټالیې ته سفر کړی، خو ترسره شوو پلټنو ښودلې چې هغه کله هم له لیبیا څخه ایټالیې یا کوم بل ځای ته نه دی تللی.

په دې اړه وروستی خبر چې د ۱۳۸۰ ل د غویي پر ۱۳ مه د لیبیا د ملي ژغورنې د جبهې په وېبپاڼه کې خپور شو، ادعا لري چې امام موسی صدر د ۱۳۷۲ په وروستیو کې د طرابلس د ابوسلیم زندان ځینو زندانیانو لیدلی او په ۱۳۷۹ کې یوې بلې سیمې ته لېږدول شوی دی.

د لیبیا ځینې رسنۍ ادعا لري چې امام موسی صدر په شمالي افریقا کې د شیعه ګانو د خپراوي هڅې لرلې چې د دې هڅې د شنډېدو په نیت وتښتول شو، خو دا حقیقت لا څرګند شوی او دا معما پر خپل ځای پاتې چې د امام موسی صدر د تښتول کېدو لامل څه و؟

## اووم څپرکی

## د قذافي ځینې ویناوې

پرملک عبدالله د قذافي نیوکه:

قذافي پر ۱۹۶۹ کال په شرم الشیخ کې د عربي هېوادونو سرمشریزې ته د وینا پرمهال د سعودي عربستان پر پاچا ملک عبدالله په نیوکو سره د ریاض سیاستونه ناسم وګڼل.

هغه دغه راز د منځني ختیځ په اړه د امریکا متحده ایالاتو پر دریځ نیوکې وکړې، ده ملک عبدالله ته وویل: امریکا چې کوم خوراکي توکي برابروي، هغې ته روسیه اور بلوي، اروپایي هېوادونه یې بیرته سړوي، اسراییل یې خوري او عربي هېوادونه یې ککړ شوي لوښي پرېمینځي.

بیا هم ملک عبدالله ته مخ اړوي او وایي: زما وروره عبدالله شپږ کاله کېږي چې پټ یې او زموږ له لیدو وېره لرې، غواړم داد درکړم چې له موږ نه مه وېرېږه، تا شپږ کاله وروسته زبات کړه چې ته دروغ وایې، د انګلیسانو لاسپوڅی یې او امریکا دې تنګه کوي.

قذافي زیاته کړه: عرب باید دومره سپک نه شي چې کاپرو ته پخپله خاوره کې پوځي اډې ورکړي، تاسې تل پر لویدیځ ملا تړئ، دومره باید ذلیله نه شئ، تاسې د عربو مشران باید د خدای په لاره کې خدمت وکړئ او له خدایه مرسته وغواړئ، څو هېوادونه مو د هغو او دغو له اغېزو خوندي اوسي، که مو له خدایه مرسته وغوښته، دا لویدیځ هېوادونه به مو پر وړاندې ذلیله وي، زه څله د لویدیځ پر وړاندې په مېړانې سره ولاړیم؟ ماسره ستاسې په پرتله هیڅ هم نه دي، ترتاسو کمزوری هم یم، خو کوم قوت چې را په برخه شوی، د

هېواد د خپلواکۍ له امله مې دی، د لیبیا خلکو له همدې امله پرې نه ښوده چې د بهرنیانو لاسونه یې هېواد ته وغځیږي.
د قذافي تر دې ترخو خبرو او د عربي سرمشریزې تر لومړۍ برخې وروسته د ډیپلوماتیکو سرچینو په ادعا، د ملک عبدالله او قذافي ترمنځ یو ساعته ناسته ترسره شوه چې تر یوې کچې یې د یو بل پروړاندې د دوی ناسم پوهاوی راکم کړ.
د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې د قذافي د دې نانديزې وينا په اړه خبرونه د کورنیو او بهرنیو خبریالانو له لورې تحریف شوي وو.

**د قطر دامیر پروړاندې د قذافي ترخې خبرې:**

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د یوې عربي سرمشریزې ناستې پر مهال د لیبیا رهبر د قطر پر امیر شیخ خلیفه بن حمدال هم سختې نیوکې وکړې، خو پرې د مکروفون پرې کېدو یې د نیوکو د غځېدو مخته خنډ شوه، خو ترهغې وروسته چې بیرته یې مکروفون روښانه کړای شو، قذافي خپلې خبرې وغځولې او ویې ویل: تاسې ټولو ته په درناوي سره دا ستونزه زما او ستا ترمنځ وه چې پای ته ورسېده او زه تاسره لیدو ته چمتو یم، خو ته به زما لیدو ته راځې!

قذافي زیاته کړه: زه د عربي واکمنو رهبر، د افریقایي پاچاهانو پاچا او د مسلمانانو امام یم، زما موقف اجازه نه راکوي چې د هغوی لیدو ته ورشم چې د امریکا نوکران او موقفونه یې تر ما ډېر ټیټ دي.

د قطر امیر چې د قذافي پر خبرو پوه شو، ترې یې بښنه وغوښته خو قذافي ناسته پرېښوده.

قذافي او د دیموکراسۍ تعریف:

د قذافي عجیب و غریبې څرګندونې تل د عربي او په ځانګړې توګه د مصري ورځپاڼو په سرټکو کې راتلې، یو ځل قذافي د طرابلس په پوهنتون کې د زده کړیالو (محصلینو) یوې ډلې ته په لیبیایي ټولنه کې د دیموکراسۍ پر فلسفې وینا لرله.

ډګروال قذافي چې خبرې یې په کنایه ډوله بڼه برابرې کړې وې، وویل: دیموکراسي په اصل کې له دوو کلیمو (دمو او (کراسي) څخه رامنځته شوې چې (دمو) یوه نوناني او د خلکو د مانا لرونکې کلیمه ده او (کراسي) هم د څوکیو یا کرسیو

جمعې ته وایي او له دې دواړو کلیمو څخه جوړه مانا هغه خلک دي چې پر ځوکیو ناست دي.
هغه زیاته کړه: له دې امله تاسې زده کړیال (محصلین) کلونه کېږي چې دیموکراسي لرئ او تر اروپایانو مو دیموکراسي ډېره پرمختللې ده، څکه کلونه کېږي چې د زده کړو پر مهال پر څوکیو ناست یاست.
وروسته قذافي دیموکراسي په سمه بڼه مانا کړه او ویې ویل، د دیموکراسۍ کلیمه ډېره له لفاظۍ ډکه خو ورسره، ورسره تر هستوي بم هم ډېره ګواښناکه کلیمه ده.
د وینا پرمهال قذافي د زده کړیالو پر پرله پسې چکچکو ونمانځل شو، په وروستۍ برخه کې زده کړیالو ژمنه وکړه چې د هېواد لپاره به ځانونه ځاروي او نه به پرېږدي چې د لیبیا دښمنان د لیبیا پر ضد کوم ګام واخلي.

**قذافي او سګرېټ:**

د ګروال ابومینار قذافي په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د یوې سرمشریزې ناستې پرمهال سګرېټ روښانه کړ، کله چې موظف پولیس ورته د سګرېټ مړ کولو وویل، هېڅ په کیسه کې یې نه شو، تر ناستې وروسته چې ترې د دې کار لامل وپوښتل شو، ویې ویل: که رېښتیا رانه پوښتئ، اعلانوم چې د ملګرو ملتونو ټولنه د امریکا، انګلستان، جرمني او فرانسې په شان د څو کفري هېوادونو یوه لاسپوڅې ټولنه او موخه یې د اسلامي هېوادونو یرغمل کول دي، په دې ناسته کې له څو تنو پرته چې زما په شان نظرونه لري، ډېرو برخوالو هماغسې یرغلګر فکرونه لرل، څکه مې پرې پام رانه وړ.

قذافي په وروستۍ ناسته کې، د ناستې تر پیل وړاندې په عصبانیت سره له ناستې ووت.

د قذافي لخوا د ملګرو ملتونو د منشور شلول

قذافي پخپلو وروستیو څرګندونو کې داسې خبرې او کلیمې وکارولې چې د نړۍ د ډېرو هېوادونو د مشرانو او رسنیو د حیرانتیا وړ شوې، په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۹ کال سرمشریزې ناستې ته د وینا پر مهال هغه د ملګرو ملتونو منشور څېرې او د ملګرو ملتونو د رېسه پلاوي خوا ته وغورځاوه، نېږدې و چې د منشور شلېدلې کاغذي پاڼې د ملګرو ملتونو د عمومي مشر پر مخ را پرېوځي.

د لیبیا رهبر په دې ناسته کې پر ملګرو ملتونو تر سختو نیوکو وروسته له ناستې ووت.

په ایټالیا کې د قذافي وینا:

ایټالیې ته د یوه سفر پر مهال قذافي رسنیو ته د اسلام د سپېڅلي دین په اړه د یوه وینا د کولو خبر ورکړ او د وینا تر کولو وړاندې یې وویل:زه غواړم تاسې دوستانو ته د اسلام د دین د ځینو مهمو ټکو په اړه وغږېږم، خو شرط دادی چې اورېدو ته یې راتلونکي خلک باید یوازې خپلې لونې او مېرمنې له ځانه سره راولي، همداسې وشول، د قذافي ځینې خبرې په ټولنه کې د مسلمانې ښځې د ونډې په اړه وې.

قذافي تر هغې وروسته چې وینا یې پای ته ورسېده، په ناسته کې حاضرې هرې ایټالوۍ نجلۍ او ښځې ته د قرآنکریم یوه، یوه نسخه چې په ایټالوۍ ژبه ژباړه یې هم لرله او د هرې یوه هدیه پر ۲۰۰ یورو

باید شوې وای، ډالې کړه او ورته یې وویل: ما سپېڅلی قرآنکریم ځکه تاسې ته ډالۍ کړ چې تلاوت او پرې عمل وکړئ.

قذافي بارک اوباما خپل زوی وګاڼه!

لیبیا یي رهبر په لومړیو کې ټینګار کړی و چې د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما عربي الاصله او آر نوم یې ابوعمامه دی، قذافي په نیویارک کې د یوې وینا پر مهال اوباما ته د زوی خطاب کړی و، چې له دې کاره یې موخه څرګنده نه شوه.

قذافي او شین کتاب:

قذافي په ۱۹۷۵ کې د خپلو فکرونو او نظریو د خپراوي لپاره یو کتاب ولیکه، دا کتاب په لیبیا کې د قذافي د هرې چارې بنسټ جوړونکی دی.

**د نیوکه کوونکو په اړه د قذافي وینا:**

قذافي په یوه وینا کې پر خپل ضد نیوکه کوونکو ته وویل: څومره چې غواړئ او کولای شئ، راټول او لاریونونه وکړئ خو د لیبیا د خلکو انقلاب او دولت ته کوم زیان ونه رسوئ، د سړکونو ښکلا او ښایست مه زیانمنوئ، هغوی چې د هېواد پر وړاندې یې لاریونونه کوي، یا خو نه پوهېږي او یا د بهرنیو هېوادونو لخوا لمسول کېږي، هغوی چې په لاریونونو کې وژل کېږي، په هغې نړۍ کې به ډېر پښېمانه وي.

قذافي همدا شان اعلان وکړ چې زه په لیبیا کې ځکه پاتې کېږم چې د صلیبیانو له واکمنۍ څخه یې وژغورم، زه ترهغې چې ژوندی یم او اسراییل راپسې راغلی نه وي، همدلته لیبیا کې به یم، له الله تعالی(ج) پرته له هیچا نه نه وېرېږم.

د قذافي د شخصیت په شننه کې سره له دې چې اختلافات موجود دي خو ټول په یوه خوله د هغه د شخصیت د عجیبه والي پخلی کوي او ټول مني چې دی له ۴۰ کلونو راهیسې د ځانګړو ځانګړنو لرونکی شخصیت دی.

په حقیقت کې قذافي د ستاینې وړ شخصیت دی، ځکه نه یې پرې ښود چې کفري هېوادونه لیبیا ونیسي.

قذافي او شکسپیر:

قذافي یو ځل په یوه غونډه کې ادعا وکړه چې د انګلیسي ژبې شاعر شکسپیر له آره لیبیایي و او انګریزانو د دې لپاره چې په ماشومتوب کې یې د هغه نبوغ او استعداد منلی و، هغه له لیبیا څخه تر تښتولو وروسته شکسپیر نومولی.

د قذافي او یاسرعرفات ملګرتیا:

شهید یاسرعرفات د قذافي له پخوانیو ملګرو ګڼل کېده، همدا شان قذافي د فلسطین د ستونزې د حلولو لپاره یوه حل لاره اعلان کړې او وړاندې کړې وه او غوښتې یې وو چې اسراییلیان باید د ستونزې د حل لپاره فلسطیني سیمې پرېږدي ځکه دوی د نړۍ تر ټولو ډېر شرخوښونکي خلک دي.

ده دا هم وویل چې که اسراییلیان فلسطیني خاوره خوشې نه کړي، موږ چمتو یو چې د خپلو فلسطیني وروڼو مرسته وکړو، ما په ځلونو ټینګار کړی چې تر هغې زموږ سیمه ییز یووالی به همداسې سره شیندلی وي، څو چې کفري هېوادونه د اسراییلیانو له ملاتړه لاس وانخلي.

باید ووایو چې د لیبیا ولسمشر څو ،څو ځله د فلسطین د ستونزو پر حل له فلسطیني مشرانو؛په ځانګړې توګه له یاسرعرفات سره لیدنې، کتنې کړي.

د غه راز عرفات څو ځلې لیبیا ته تللی او د ولسمشر قذافي د حکومت ستاینه یې کړې،عرفات د لیبیا او فلسطین د ملګرتیا پرملګرتیا د ټینګار په ترڅ کې لاویلي وو چې فلسطین او لیبیا لکه روح او جسم دي.

قذافي او ځان سوزونه:

قذافي په تونس کې د ځان سوزونې د پېښو او په عربي هېوادونو کې د لاریونونو په ډېریدو سره ګواښ وکړ چې څوک که د ځان سوزونې تر هڅې وروسته ژوندی پاتې شي،د یوه اسلامي هېواد پر وړاندې د بغاوت په تور به پینځه کاله بند وګالي،ځکه د اسلامي شریعت له مخې د نفس وژنه حرامه ده.

## اتم څپرکی
## د لیبیا او امریکا اړیکې



لیبیا او امریکې په وروستیو لسیزو کې بېلا، بېلې دوه اړخیزې تجربه کړې، په ځانګړې توګه؛تر ۱۹۶۹ زېږدیز کال وروسته چې د ډګروال قذافي په مشرۍ نظام په دغه هېواد کې رامنځته شو.

قذافي چې واک ته د رسېدو پر مهال تر اته وېشتو کلونو ډېر عمر نه لرلو، د واکمنۍ له هماغه پیله له وینې څښونکي امپریالیزم او امریکا سره مخالفت پیل کړ.

په ۱۹۸۱ز کې قذافي امریکا ترهګره وګڼله او ولسمشر رونالډ ریګن یې لېونی سپی!

په همدې کال کې د لیبیا د بهرنیو چارو وزارت امریکا ته د وېزو ورکړه پای ته ورسوله، په ۱۹۸۲ کې یې امریکا ته د نفتو د صادرولو ترونونه تحریم کړل.

د امریکا پر وړاندې د لیبیایي رهبر دا ډول غبرګونونو ورځ، ترورځې دغه هېواد سره د امریکا اړیکې خړې کړې.

د دریېمې لارې د دریځ تر اعلانولو وروسته لیبیا او امریکا د اړیکو یو نوی څپرکی پرانېست او اختلافات یې راکم شول، تر دې چې لیبیا وکړای شول د امریکا لخوا د شنه څراغ په ښودلو سره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا نادایمي غړیتوب واخلي.

واشنګټن ته د لیبیا د بهرنیو چارو د وزیر عبدالرحمن شلقم سفر او له کاندولیزا رایس سره لیدنه یې د دواړو لورو د اړیکو د ښه کېدو څرګندویه وه.

له امریکا سره د اړیکو پریکون:

له امریکا سره د لیبیا د اړیکو خړېدل د قذافي د واکمنۍ له پیلیدو څخه پیلیږي، وروسته تر هغې چې په ۱۹۶۹ کې معمرقذافي د یوې کودتا له لارې د لیبیا حکومت ترلاسه کړ، هم مهاله یې پر امریکا متحده ایالاتو خپلې نیوکې پیل کړې.

د لیبیا ځوان رهبر دې ښکاره نیوکو په هرځای کې دوام درلود، ده په بېلا، بېلو ټولنو او ویناوو کې د امریکا پرضد خبرې کولې، د قذافي دې ګامونو سره له دې چې د سپینې ماڼۍ غوسه پاروله، خو کله هم د دواړو هېوادونو د اړیکو د پرې کېدو لامل نه شوې.

د دې ټولو په خوا کې تر ټولو مهمه موضوع چې نړیوال یې اغېزمن کړل، د دې هېواد له لورې له لوید یځ سره له ترونونو انکار و.

قذافي د واکمنۍ په لومړیو کې یې له لوید یځوالو سره د لیبیا د تړونونو په لغوه کېدلو سره ټینګار وکړ چې هېواد به یې د خپل عزت د

خوندیتوب لپاره له لویدیځې نړۍ سره خپل ټول تړونونه له منځه یوسي.

دا ګام(د همکاریو پرې کول)او د قذافي پرله پسې نیوکې لامل شوې چې امریکا متحده ایالاتو په ۱۹۷۲کې له لیبیا څخه خپل سفیر ور وغوښت.

د امریکا او لیبیا ترمنځ د اړیکو سرښت:

له لیبیا څخه د امریکایي سفیر تر ورغوښتل کېدو وروسته،د وخت په تېرېدو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو سرښت زور واخېست او ټولې پېښې په ۱۹۷۹کې رامنځته شوې.

هغه داسې چې د قذافي پلویانو او خلکو په ترابلس کې د لاریونونو په بڼه د امریکایي سفارت پر لور لاړل.دوی دومره غوسه ول چې سفارت ته یې اور ورته او په پوره ډول را ویجاړ یې کړ.

په دې ګام پسې امریکا متحده ایالاتو په لیبیا کې خپل سفارت وتړه او دغه افریقایي هېواد سره یې په پوره ډول اړیکې له منځه یوړې.

د ملګرو ملتونو له امنیت شورا سره د لیبیا ناندرۍ

.کله چې امریکا په لیبیا کې خپل سفارت وتړه،لیبیا د ملګرو ملتونو له امنیت شورا سره په ناندریو واوښته،تر څو کلونو پورې وضعې همداسې دوام وکړ او د دواړو هېوادونو په اړیکو کوم ځانګړی بدلون ونه موند.

د لیبیا بهرنی سیاست هغه مهال ډېر ناندریز شو چې په ۱۹۸۸کې یې د ملګرو ملتونو له امنیت شورا سره ناندرۍ پیل شوې،په دې کال کې لیبیا تورنه شوه چې د پان امریکن الوتکې ته په بم اېښودنه کې یې لاس درلود.

۲۷۰تنه د سکاټلنډ د لاکربي په فضا کې پر دې الوتکې چاودنې ووژل، خو لیبیا دا تورونه رد او په پېښه کې لاس لرل رد کړل.

د فرانسې او امریکې پریکړه لیک:

لیبیا سره له دې چې د لاکربي پېښه کې ښکېلتیا ونه منله خو بیا هم فرانسه او امریکا یې پر ضد له تحریمونو د یوه ډک پریکړه لیک د تصویبیدو هڅې پیل کړې، یوشمېر بندیزونه له دې کبله د امنیت شورا لخوا ومنل شول، په دې ډول لیبیا پر لویدیځ سربېره د نړۍ ځینو نورو هېوادونو سره هم ښې اړیکې وبایللې، په دې وخت کې په دې هڅه کې شوه چې پر خبرو ،اترو له دې ستونزې ځان وژغوري.

لویدیځ ته د لیبیا لېوالتیا:

کفري هېوادونو پرلیبیا د دوه لسیزو سیاسي او اقتصادي بندیزونو په واکمن ساتلو سره د دې هېواد پر مسلمانو خلکو نه جبرانیدونکي ګوزارونه وکړل، په دې موده کې که څه هم لیبیا په شمالي افریقا کې تر ټولو مهم لوبغاړی شو خو د بندیزونو له امله له یوې نړیوالې انزوا سره هم مخامخه شوه.

قذافي د وخت په تېرېدو سره پوه شو چې د لویدیځ پر وړاندې مقابله او هراړخیزې د[illegible] لګښت او قربانۍ چې ګالل یې ګران دي، غواړي.

په دې ډول یې د دریېمې لارې د[illegible] په څرګندولو سره د داسې چانس موندلو هڅه کوله چې له لویدیځ سره یې د هېواد ترینګلې شوې اړیکې پرې ورغوي.

بالآخره یې د سپتمبر د ۱۱مې تر پېښې وروسته دا چانس وموند او په ۲۰۰۳کې یې د یوه حیرانونکي اعلان په کولو سره وویل چې، لیبیا پخپله خوښه له خپلو اټومي هڅو لاس اخلي.

د لوید یځ ټولو مشرانو او امریکا متحده ایالاتو د دې اعلان هرکلی وکړ، خو یوازې یې پر دې بسنه ونه کړه او ویې ویل، د قذافي د نورو داسې اغېزناکو ګامونو د اخېستل کېدو انتظار کوي.

بلې غاړې ته، قذافي هم په هوښیارۍ سره پوه شوی و چې له لوید یځو هېوادونو او امریکا سره د ښو او تودو اړیکو د را ژوندي کولو لپاره ډېرو نوښتونو ته اړتیا لري.

دا مهال یې د الوتکې د الوزولو په اړه پر ځان د لګول شوو تورونو د ردولو هڅه پیاوړې او نرۍ ته وښوده چې ښې اړیکې غواړي.

د قذافي په دې ګام پسې امریکا او اروپا اعلان وکړ چې د الوتکې د قربانیانو کورنیو ته د لیبیا لخوا د تاوان په منل کېدو سره به پر دغه هېواد لګولي بندیزونه بیرته واخلي.

لیبیا دا غوښتنه ومنله او د لارکربي د پېښې قرباني کورنیو ته یې ۲،۷ میلیارده ډالره تاوان ومانه.

## نهم څپرکی

**د لاکربي پېښه**

معمر قذافي چې له پیله د امریکا کلک مخالف و، د لاکربي تر پېښې دوه کاله وروسته وپل کېدل چې دا پېښه د قذافي په اشاره د لیبیا پر طرابلس او بنغازي د امریکایي بمبارۍ د بدل اخېستو لپاره شوې، په دې پېښه کې چې یوه ۱۰۳ډوله امریکایي الوتکه په بم والوزول شوه، ۱۸۳ امریکایي سرتېري له نورو کسانو سره یو ځای ووژل شول.

تر پېښې وروسته د قذافي نوم د امریکا او انګلستان په ګډو هڅو د ترهګرۍ د تورنو ملاتړو په نوملړ کې ولیکل شو.

د لاکربي پېښه او پر لیبیا بندیزونه

د پان امریکن الوتکه د ۱۹۸۸ د دسمبر پر ۲۱مه د سکاټلینډ په لاکربي کلي کې په بم والوزول شوه او پکې ناست ټول ۲۷۰ تنه مسافرین او چوپړ کوونکي ووژل شول.

انګلستان پخپل تاریخ کې په بېساري بڼه د دې پېښې پلټنه وکړه، د پېښې موخه امریکا وګڼل شوه، ځکه ۱۸۹ سرتېري یې پکې وژل شوي وو.

دا پېښه د ۲۰۰۱ د سپتمبر د ۱۱ مې تر پېښې وړاندې پر امریکایانو تر ټولو ډېر مرګوني برید وګڼل شو، د امریکا او انګلستان دولتونو لیبیا الوتکې ته په بم اېښودو تورن کړ، خو لیبیا چې کله د پېښې قربانیانو ته تاوان ومانه، په یو ډول یې د پېښې مسولیت پر غاړه واخېست.

عبدالباسط مقراحي پوازینی څوک دی چې د دې بم اېښودنې په تور محاکمه شو، خو هغه تر پایه ځان بې ګناه وباله.

د لاکربي د پېښې مسولیت منل:

د لیبیا لخوا په نامستقیمه توګه د دې پېښې مسولیت منلو د امریکا او لیبیا له درېیو لسیزې ناښې او په وروستیو کې ښخې خړې شوې اړیکې بدلې کړې او امریکا په پوره ډول لیبیا سره ډیپلوماتیکه اړیکه پیل کړه.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کاندولیزا رایس د ۲۰۰۶ کال په مئ کې وویل: خوښه یم چې له لیبیا سره د بیاځلي پوره ډیپلوماتیکو اړیکو پیلیدل اعلانوم، موږ ژر په طرابلس کې خپل سفارت له سره پرانیزو.

دې خبرو او په ځانګړې توګه دې چې سپینې ماڼۍ وویل، د لیبیا نوم به د ترهګرۍ د ملاتړو هېوادونو له نوملړه وباسي، د دغو هېوادونو د پخلاینې هڅې پیاوړې کړې.

څو ورځې وروسته د رایس مرستیال رابرټ زوئلیک وویل: امریکا له طرابلسه غوښتي چې د دارفور پرسر د سوډان د روانې نانډرۍ په حل کې مرسته وکړي.

د ۲۰۰۶ د مارچ پر ۱۵مه په نیویارک کې رایس له خپل لیبیایي سیال عبدالرحمان سره د لیدو پرمهال د ترهګرۍ پر ضد د قذافي هڅې وستایلې، د امریکا مشرانو جرګې پر همدې مهال د ترهګرۍ د ملاتړو هېوادونو له نوملړه د لیبیا د نوم پاکولو پریکړه هم وکړه، جرګې حکومت سره دا هم ومنله چې دغه هېواد سره دې ډیپلوماتیکې اړیکې هم په پوره ډول له سره پیل کړي.

په دې ترڅ کې امریکا متحده ایالاتو که له یوې خوا لیبیا سره د اړیکو له سره پیلولو ته لېواله و، له بلې خوا یې په دې برخه کې له پوره احتیاطه هم کار اخېست، دې هېواد له لیبیا څخه یو ځل بیا وغوښتل چې له سوډان سره دې د دارفور ستونزې په اواري کې مرسته وکړي، دا هغه غوښتنه وه چې امریکا پرې یو ځل بیا نړیوالو ته د ترهګرو د ملاتړ په توګه د لیبیا د ور پېژندلو هڅه کوله او ځان یې د بشري حقونو یو مدافع هېواد باله.

د لیبیا او امریکا د دې ښو کېدونکو اړیکو لپاره یوه ستونزه د امریکا د ولسي او مشرانو جرګې غړو را وتوکوله، دوی ویل لیبیا سره دې په دې شرط پوره اړیکې بیا پیل شي چې دا هېواد د لاکربي د پېښې ټول تاوان پرځان ومني.

استازو دا هم ویل چې د منلي تاوان ورکړې ته هم لیبیا کوم ضمانت نه دی وراندې کړی، خو له دې ټولو کورنیو مخالفتونو سره بیا هم د امریکا حکومت لیبیا سره د نېږدې کېدو هڅې روانې وساتلې، مهم ګامونه یې پکې واخېستل چې قذافي ته د بوش لیک او په لیبیا کې یې د نوي سفیر ګومارنه په بېلګو کې یادولی شو.

نلسن منډېلا

نلسن منډیلا د ۱۹۱۸ د جنوري پر ۱۸مه نړۍ ته سترګې پرانېستې، هغه د ټولیزو ټاکنو له لارې د سویلي افریقا لومړنی ټاکل شوی ولسمشرو.

هغه تر ولسمشرۍ وړاندې په سویلي افریقا د اپارتاید یو له مهمو مخالفینو او د ملي افریقا د غورځنګ لارښود و، دی د خپلو همدې موخو لپاره د پټ وسله وال مخالفت او مبارزې په تور محاکمه او

زنداني شو، د ځینو شنونکو په اند منډیلا ته چې د کړکیچ خلاف سړی و، دا وروستی او له دې پرته بله لاره نه وه.
منډیلا د ۲۷ کلن بند په موده کې چې ډېره برخه یې د روبن جزیرې په یوه برخه کې تېره کړه، د سویلي افریقا په کچه د اپارتاید پر وړاندې د مبارزې نوموتې څېره وګڼل شوه، که څه هم چې اپارتاید نظام او ملاتړو ملتونو یې منډیلا او د ده غورځنګ کمونېست او ترهګر ګڼه، خو هغه په ۱۹۹۰ کې له بنده تر خوشې کېدو وروسته سوله ییز سیاست خپله تګلاره کړه.
منډیلا د څلورو لسیزو په موده کې د جایزو په ګټلو پسې اوس یو سرلاری سیاستوال دی، چې پر مهمو مسایلو خپلې ګروهې (عقاید) څرګندوي، هغه په سویلي افریقا کې د مادیبا په لقب نازول کېږي، هغه ویاړ چې د هغه د کورنۍ مشرانو ورکړی.
د سویلي افریقا ډېر خلک هم د درناوي په دود هغه ته دا نوم چې د مشرپلار مانا لري، کاروي، منډیلا د لاکربي پر پېښې د امریکا او قذافي د کړاولو ډېره هڅه وکړه.

## د نلسن منډیلا نړیواله ډیپلوماسي

منډیلا د لاکربي تر پېښې وروسته د امریکا او لیبیا د اړیکو رغولو ښه لاره د هغو دوو تورنو لیبیایانو په محاکمه کولو کې لیده چې په دې پېښه کې پرې د لاس لرلو تور پورې و، ده د ۱۹۹۴ په نومبر کې وړاندیز وکړ چې د یوه ناپېیلي هېواد په توګه د تورونو محاکمه دې په سویلي افریقا کې وشي، خو له بده مرغه چې هغه مهالي انګلیس لومړي وزیر جان میجر دا وړاندیز ونه مانه.

منډیلا درې کاله وروسته لندن ته پخپل سفرکې په دویم ځل د میجر ځای ناستي ټوني بلیر سره هم خپل ورانديز شريک کړ، په هماغه ۱۹۹۷ کال کې د همګټو هېوادونو د سرمشریزې ناستې پر مهال خبرداری ورکړ چې هیڅ هېواد باید د قاضي ونډه ونه لوبوي.

څه موده وروسته وویل شول چې د تورنو محاکمه به د سکاټلنډ د اساسي قانون پر بنسټ په هالینډ کې محاکمه کېږي، نلسن منډیلا د ۱۹۹۹ په اپرېل کې له معمر قذافي سره پر دې خبرې پیل کړې چې د بندیانو د بدلوني له لارې تورن کسان(عبدالباسط مقراهي او فیمه)را خوشې کړي.

د دې تورنو تر محاکمې نهه میاشتې وروسته د ۲۰۰۱ په جنورۍ کې پر دوی پریکړه صادره شوه چې پکې فیمه بې ګناه او عبدالباسط مقراهي په پړ ګڼل کېدو سره په سکاټلنډ کې پر ۲۷ کلن بند محکوم شو.

په ۲۰۰۲ کې پر پریکړې د بیاکتنې په اړه د مقراهي غوښتنه رد شوه، د همدې کال د جون پر ۱۰ مه نلسن منډیلا د هغه د لیدو لپاره د بارلیني زندان ته لاړ.

هغه له بندیانو سره د لیدو په خونه کې خبري ناستې ته وویل: د بند موده کې د یوه انسان یوازې پرېښودل د هغه ذهني ځورول دي، ښایي عادلانه به وي چې هغه یوه اسلامي هېواد ته ولېږدول شي، که مقراهي په مراکش، تونس یا مصر کې وي، کورنۍ یې په اسانۍ ورسره لیدلی شي.

وروسته مقراهي ګریناک زندان ته ولېږدول شو، د سکاټلنډ د جنایي پېښو څېړونکی پلاوی له وروستیو راهیسې د هغه دوسیه څېړي،

تمه ده چې دغه پلاوی به د هغه په اړه له خپل عالي دېوان څخه د بیاځلي پریکړې غوښتنه وکړي.

د نلسن منډیلا ویاړنې او ګټلې جایزې

منډیلا په ۱۹۹۹ کې د خپلې ولسمشریزې مودې په پای ته رسېدو سره د فعالو ټولنیزو سازمانونو او بشري حقونو له پلویانو سره ملګری شو، هغه ډېرې نړیوالې جایزې وګټلې چې نمونه یې دا دي:

۱-د ښښنې نړیوالې ډلې د وجدان سفیر ۲۰۰۶

۲-د سولې نړیواله جایزه۱۹۹۳

۳-د کاناډا یو مدني فعال

۴-د سنت جورج ډلې یو غړی

۵-د جمهوري ریاست د خپلواکۍ مډال

۶-د لنین د سولې جایزه ۱۹۹۰

۷-بهارات رائتنا ۱۹۹۰

۸-د لیاقت مدني ډلې غړی

۹-د معمرقذافي د سولې او بشري حقونو جایزه

په ۲۰۰۳ کې نلسن منډیلا د خپلو څو وینااوو په ترڅ کې د جورج ډبلیو بوش د دولت پر بهرني سیاست نیوکې وکړې او اعلان یې وکړ چې بوش د افغانستان او عراق په جګړو کې د ملګرو ملتونو له آرونو سرغړونه کوي ،د دې لپاره چې د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان سره چې یو تور پوستی دی،د توکم پالنې له مخې چلن شوی وي.

## لسم څپرکی

## لیبیا او لویدیځ

له برتانیې سره د لیبیا د اړیکو ترینګلتیا

په ۱۹۷۲ کې د ایرلنډ د خپلواکي غوښتونکي پوځ تر یو لړ پټو عملیاتو وروسته معمر قذافي اعلان وکړ چې په برتانیه کې ځای، پرځای شوي بم چې برتانویان یې له روحي پلوه وځپل، د لیبیا د خلکو اړوند و، هغه بم موږ ایرلینډي انقلابیانو ته ولېږه چې برتانویان پرې د خپلو پخوانیو کارونو پور پرې کړي.

د ۱۹۸۴ په اپریل کې کله چې لندن مېشتو لیبیایانو په هېواد کې یې د دوو دولت ضدو لیبیایانو د اعدامولو خلاف لاریون وکړ، لیبیایي دیپلوماتانو پر ۱۱ لاریون کوونکو ډزې وکړې چې یوه برتانوي پولیسه یې په ترځ کې ووژل شوه، له دې امله د لیبیا او برتانیې اړیکې په یوه لسیزه کې ترینګلې شوې.

په ۱۹۹۶ کې پر سرت ښار د حکومت ضدو تر برید وروسته د برتانیې اطلاعاتي سروېس د لاسوندونو په خپراوي سره قذافي د خلکو په تولوژنه تورن کړ، خو څه موده وروسته دا خبره د بهرنیوچارو د هغه مهالي وزیر رابین کوک لخوا رد شوه، وروسته د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت وویل، کله یې هم د تولوژنې خبره رد کړې نه ده او دوی د قذافي له توطیو خبر ول.

قذافي اعلان وکړ چې برتانیه یې د هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي او که ترې لاس په سر نه شي، له بدو پایلو سره به مخامخه شي.

د لیبیا او سوېس ناندرې:

د سویس او لیبیا ترمنځ ناندرۍ د ۲۰۰۸ په جولای کې ترهغې وروسته پیل شوې چې د قذافي زوی هانیبال او مېرمنه یې په ژنو ښار کې له خپلو چوپړ کوونکو سره د ناسم چلن په تور ونیول شول، دوی دواړو که څه هم کومه ګناه نه لرله خو تر دوه شپې او ورځې بند ګاللو وروسته د پینځه سوه زره ډالرو په ضمانت سره خوشې شول او هماغه ساعت لیبیا ته لاړل.
لیبیا د سویسي پولیسو د دې کار پر وړاندې د غبرګون په توګه پخپله خاوره کې د سویس دوه وګړي ونیول چې ورسره د دواړو لورو اړیکې له منځه لاړې.

د سویس پر وړاندې د جهاد اعلان:
د ۲۰۱۰ په نومبر کې د سویس او فرانسې خلکو په جوماتونو کې د منارو د جوړولو پر ضد رایې ورکړې چې د اسلامي هېوادونو له سختو نیوکو سره مخ شول.
د ۲۰۱۰ په لومړیو کې معمر قذافي د اخوان المسلمین له نړیوال مانوي مشر شیخ یوسف القرضاوي سره په لیدنه کې د صهیونیزم او د سویس پر ضد د جهاد په اړه خبرې، اترې وکړې.
ده ادعا وکړه چې: سویس کافر او ګناګار دی، د جوماتونو منارې ړنګوي، له هرې شونې لارې چې وي، باید جهاد یې پر ضد اعلان شي، ځکه دوی په ورځپانو کې یې د حضرت محمد ص په اړه له ځانه بې ځایه او له نفرته ډک انځورونه هم پنځولي.

لیبیا تر دې وروسته له سویس څخه د الوتکو، کښتیو راوړل او
همدا شان ورسره پر سفارتي اړیکو بندیزونه لګوي او خامخا به پر
دغه ملحد هېواد د جوماتونو د توهین لپاره اقتصادي بندیزونه
ولګوو، هر مسلمان چې له سویس سره کومه معامله وکړي، د الله
تعالی(ج)، قرآنکریم، اسلام او حضرت محمد(ص) دښمني به يې کړې
وي.

ټول مسلمانان باید پوه شي چې دغه هېواد کاپردی))

پر سویس د لیبیا بندیزونه:

لیبیا خپلې خاورې ته د سویسیانو د ورتلو پر وېزو د بندیز لګولو
ترڅنګ پخپله غېږه کې د سویسي سوداګریزو شرکتونو پر
فعالیتونو هم بندیز ولګاوه، سوېس ته يې الوتنې کمې کړې او د
نفتو صادرات يې هم دغه هېواد ته ودرول.

سره له دې چې د سویس د بهرنیو چارو وزیر کال وروسته لیبیا ته
سفر وکړ، خو د لیبیا حکومت يې پر وړاندې د سویس له بانکونو
څخه خپل پینځه میلیارده ډالره وویستل.

تر دې وړاندې په افریقا وچه کې لیبیا د سویس تر ټولو ډېر
سوداګریز ملګری هېواد و.

په همدې یوه کال کې لیبیا ته د سویس صادرات اویا په سلو کې را
کم شول.

په دې دومره موده کې د سویس پر وړاندې د قذافي غوسه کمه نه
شوه، ده د ۲۰۰۹ په جولای کې د نړۍ د اتو هېوادونو د غونډې
پرمهال چې په ایټالیا کې وه، له لاسته راغلي وخت نه په ګټنې سره

د سویس پر دولت لفظي برید وکړ، مافیایي دولت یې وګاڼه او د نړیوالې ترهګرۍ په ملاتړ یې تورن کړ.

تر دې وروسته د سویس استازي هانس رودلف مرتز په رسمي ډول اعلان وکړ چې دوی د لیبیا له حکومته بښنه غواړي.

**سویس په ژنیو کې له لیبیا څخه بښنه وغوښته!**

د سویسي استازي ژمنه پلې شوه، د هېواد ولسمشر یې پخپله خاوره کې د پولیسو لخوا د لیبیایي ډیپلوماتانو د نیول کېدو بښنه وغوښته، خو قذافي وریسې د ۲۰۰۹ په سپتمبر کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې پر مهال وړاندیز وکړ چې سویس دې تجزیه او د ایټالیې، فرانسې او المان تر منځ ووېشل شي.

د سویس دولت یې پر وړاندې د ۲۰۱۰ په فبرورۍ کې شنګن سیمې ته د قذافي په ګډون د ۱۸۸ لیبیایي چارواکو د ورتګ مخه ونیوله، تر دې یوه ورځ وروسته لیبیا له انګلیسانو پرته خپلې خاورې ته د ټولو اروپایانو پر ورتګ بندیز ولګاوه.

د دې کار پروړاندې غبرګونونه تر یوې کچې منځلاري وو، په ژنیو کې د ملګرو ملتونو د ټولنې د پلاوي مشر د قذافي خبرې د نه منلو وګڼلې، د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو ویاند هم دا پریکړه خواشینونکې وګڼله.

خو د ۲۰۱۰ د مارچ په وروستیو کې د اسپانیې د بهرنیو چارو وزیر میګل انجل موراتینوس چې د اروپایي ټولنې په استازۍ یې د عربي مشرانو په ناسته کې برخه اخېستې وه، د لیبیایي چارواکو لارې ته پر خنډ رامنځته کېدو خواشیني وښوده، خو په لیبیا کې یې د سویسي وګړو پر زنداني کېدو څه ونه ویل.

**لیبیا امریکایان وګواښل!**

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند پي، جې کراولي د قذافي له لوري د سویس پر وړاندې د جهاد اعلان له یوې ټوکې سره ورته وبلله، د لیبیا رهبر معمر قذافي هم ژر د امریکا متحده ایالاتو تریخ

ځواب ووایه او د حکومت مشرانو ته یې امر وکړ چې د امریکا له نفتي کمپنیو سره دې خپل تړونونه لغوه کړي.

د لیبیا انقلاب دولت اعلان وکړ، ترهغې چې امریکا د خپل ویاند پر بدو څرګندونو ښښنه ونه غواړي، موږ دوی سره خپل ټول تړونونه له منځه وړو.

له دې ګواښنو څو ورځې تېرې نه وې چې امریکا له ښکاره دومره غټوالي سره یې هم مجبوره شوه چې په ښکاره د کوچني لیبیا له انقلابي حکومت څخه چې اراده یې د امریکایانو په پرتله لوړه ده، رسمي ښښنه وغواړي.

## له لیبیا څخه د واشنګټن د ښښنې غوښتل

د اسلامي هېوادونو تلویزوني رسنیو په ځلونو، ځلونو له لیبیا څخه د واشنګټن د ښښنې غوښتو انځورونه خپاره او قذافي یې یو اتل وګاڼه.

د دې یادونه هم اړینه ده چې اوسمهال د لیبیا او متحده ایالاتو د سوداګریزو اړیکو ارزښت ۴،۵میلیارده ډالرو ته رسیږي، پر داسې مهال چې دا کچه په ۲۰۰۴ کې ۷۰ میلونه ډالره وه.

د لیبیا د نفتي زېرمو بیه تر ۱۰۰ میلیاردو ډالرو زیاته ده چې د قذافي په مشرۍ لیبیایي حکومت ترې په ګټې اخیستنې سره کولای شول، نه یوازې پر اروپايي ټولنې او امریکا بلکې؛ د روسیې او چین په شان نور نړیوال لوبغاړي هم تر خپل اغېز لاندې راولي.

ډېرو سیاسي کارپوهانو د قذافي خبرې چندانې جدي نه ګڼلې او پر دې ګروهه(عقیده)ول چې لیبیا په نړیواله کچه تر فشارونو لاندې راغلی و، خو پر وړاندې یې د اسلامي نړۍ شنونکی فرانسوی

مالک چېل نیوک د نورو پر وړاندې د لیبیا پر تریخ دریځ نیوکې لري.

په لیبیا په یوه بل حیرانونکي ګام اخېستو سره د ۲۰۰۰ ز د مارچ په وروستیو کې د اسلامي مجاهدینو د ډلې غړي چې له اخوان المسلمین غورځنګ سره یې تړاو درلود، له زندانه را خوشې کړل.

د دې ډلې غړي په لیبیا کې د یوه اسلامي حکومت د رامنځته کولو په هڅه کې ول.

ناسمه به نه وي که وویل شي چې له دې کسانو څخه چې د لویدیځ پر ضد د عملیاتو تجربه لري، تر خوشې کېدو وروسته د سویس د ګټو پرضد په لیبیا کې دننه او ترې بهر د وړانونکو هڅو لپاره ګټه اخېستل شوې وای، ځکه که لیبیا ته چانس په برخه او د اخوان المسلمین د مجاهدینو مرسته او ملاتړ یې کړی وای، په اسانۍ سره یې د لویدیځوالو ګټې پرې ګواښولای شوې.

طرابلس ته د امریکا د ملي امنیت د سلاکار سفر

د ۱۳۸۲ ل داوړي په لومړیو کې د امریکا د ملي امنیت سلاکار فرانسیس تاونسند ترابلس ته پخپل سفر کې د لیبیا رهبر معمر قذافي ته د امریکایي ولسمشر جورج ډبلیو بوش لیک وسپاره، په دې لیک کې بوش د لیبیا له رهبر څخه له اټومي هڅو د ده د لاس په سر کېدو مننه او په خوا کې یې ورسره د اړیکو د زیاتوالي او پیاوړتیا غوښتنه کړې وه.

تر دې لیک درې ورځې وروسته بوش د لیبیا لپاره جین کرتز چې وړاندې په تل آویو او دمشق کې د امریکایي سفیر مرستیال و، د خپل نوي سفیر په توګه اعلان کړ.

## د واشنګټن او ترابلس سیاسي اړیکو خوړلني

بالاخره د طرابلس او واشنګټن د اویایمې او اتیامې لسیزې د دښمنۍ کړکېچنه اړیکه په ملګرتیا بدله شوه، په زړه پورې دا وه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کاندولیزا رایس په یوه وینا کې هیله ښودلې وه چې په لنډ راتلونکي کې به د شمالي افریقا نوي هېواد ته سفر کوي، ناڅاپه دا سفر هم لیبیا سره د رایس په هڅو د امریکا د اړیکو له ښه کېدو سره هم مهاله ترسره او نیمه پېړۍ وروسته رایس د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو د لومړنۍ وزیرې په توګه دې افریقایي هېواد ته سفر وکړ.

د دې رسمي سفر پر مهال رایس په ترابلس کې د لیبیا د خلکو رهبر ډګروال معمر قذافي سره په لیدنه کې د لیبیا خلکو سره د نېږدې اړیکو غوښتونکې شوه، همدا شان یې په لیبیا کې د امریکا د نفتي کمپنیو د پانګونې په څېر ځینو نورو ارزښتناکو مسلو هم ورسره خبرې وکړې.

تر رایس مخکې جان فاستر دالس په ۱۹۵۳کې د امریکا د بهرنیو چارو د هغه مهالي وزیر په توګه لیبیا ته په رسمي سفر ورغلی و، تر هغه وروسته رایس نه یوازې دا چې د هغه د ځای ناستې په توګه لیبیا ته لومړنی سفر وکړ، بلکې له دغه هېواد سره یې د امریکا ترینګلې او له منځه تللې اړیکې له سره رامنځته کړې.

## د لیبیا او امریکا دیپلوماټیکې اړیکې

پورتنیو کرښو ته په پام سره ویلی شو چې په تېرو څلورو لسیزو کې امریکا او لیبیا ډېرې ژر بدلې شوې اړیکې لرلې، په اویایمه لسیزه کې د قذافي په واکمنیدو سره د دواړو لورو ترخې اړیکې لورې

کچې ته ورسېدې او ان پرې شوې، خو د دواړو لورو ترمنځ د دریمې لارې د دریځ په پیدا کېدو سره دا اړیکې په تلو، تلو کې یو ځل بیا تودې شوې، تر دې چې په ۲۰۰۸ کې لیبیا د امریکا په مرسته وکړای شول د امنیت شورا ته لاره وکړي او په دغه شورا کې د دوو کلونو لپاره نادایمي غړیتوب ترلاسه کړي.

## د لیبیا د مخالفینو ګټې او د لیبیا د انرژۍ ارزښت

څه چې د لیبیا او امریکا د اړیکو په بیا پیلېدو کې یې د یو مهم لامل په توګه څېړلای شو، بنایي د دواړو هېوادونو د ګټو بحث وي. اوس په اسانۍ سره ویلی شو چې د دوی تر ټولو مهمه مشترکه ګټه انرژي ده، ځکه لیبیا د افریقې او نړۍ یو له بډایو هغو هېوادونو څخه دی چې د نفتو او ګازو پراخې سرچینې لري.

د ۲۰۰۲ په لومړیو کې د نفت او ګازو مهمې مجلې وړاندوینه وکړه چې لیبیا د ۵۳ تریلیون مکعب مترو په شاوخوا کې ګاز لري او د نړۍ څلورم ډېر نفت لرونکی هېواد ګڼل کېږي.

له بلې خوا د ډېرو کارپوهانو په وینا په لیبیا کې د نفتو او ګازو ډېرې مهمې سرچینې لا موندل شوي او پېژندل شوي نه دي چې له نوو څېړنو سره موندل کېدل به یې د دې هېواد انرژیکي زېرمې لا پسې زیاتې او بډایې کړي.

د دې زېرمو د نه برسېره کېدو لامل دا دی چې لیبیا په تېرو څو لسیزو کې د نړیوالو اقتصادي او سیاسي بندیزونو له امله ونه شو کړای چې په اړینه توګه پرخپلو دې برخو پانګونه وکړه.

له دې امله د لیبیا انرژیکي صنایعو په تېرو کلونو کې را کمزورې شوې او په اقتصادي برخه کې یې د دې هېواد لپاره ستونزې پیدا کړې، د بېلگې په توگه: لیبیا اوس د ورځې ۲، ۱ میلونه بوشکې نفت تولیدوي، دا کچه په ۱۹۷۱ کې د ورځې ۲۸، ۳ میلونه بوشکې وه.
لیبیایي رهبر معمر قذافي چې د هېواد اقتصادي وضعې ته یې ناوخته پام شو، لوی دیخ سره د اړیکو ښه کولو طرحه جوړه او اعلان وکړ چې هېواد یې غواړي تر ۲۰۰۸ کاله پورې د خپلو نفتو ورځینی تولید دوه میلونه بوشکو او د ۲۰۱۱ تر پایه پورې درې میلونه بوشکو ته ورسوي، دا هغه اعلان و چې په عملي کېدو سره یې لیبیا د نړۍ د لسو ډېرو نفت تولیدونکو هېوادونو په ډله کې تر ونزویلا، عراق او نایجیریا هم مخکې کاوه.
له دې اعلان سره سم د لیبیا د انرژۍ صنعت تر درې لسیز ځنډ وروسته د لویدیځو او څو ملیتي شرکتونو مرستې او پانگونې ومنلې.
دا مهال د لیبیا د نفتو او گازو سرچینې د امریکایي او اروپایي کمپنیو د سیالۍ ډگر شو، اروپایي کمپنۍ له امریکایي سیالانو څخه تر یوې کچې مخکې شول، د امریکایانو د وروسته پاتې والي لامل له لیبیا سره د اړیکو په بیا پیلولو کې ځنډنۍ هڅې وې.
د ۲۰۰۷ په مۍ کې لیبیا ته د برتانیې د هغه مهالي لومړي وزیر ټوني بلیر له سفر سره هم مهاله د بریټیش پټرولیوم کمپنۍ اعلان وکړ چې له لیبیا سره به د نفتو او غازو د پېروډلو لپاره د ۹۰۰ میلونه ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک کړي، دې کمپنۍ همدا شان

وویل چې کېدای شي تر راتلونکو څو کلونو يې په لیبیا کې د کلنۍ پانګونې کچه له ۲۵ میلیارده ډالرو څخه واوړي.
پر دې کمپنۍ سربېره د شل او اني په شان نورې برتانوي کمپنۍ هم له لیبیا سره د نفتو او غازو د پېرودلو تړونونه وکړل، څو امریکایي کمپنۍ د ترابلس او واشنګټن د اړیکو د ناښه والي له امله پاتې راغلل چې دا سیالي وګټي.
اوس چې د امریکا په مشرۍ د لیبیا پر خاورې بریدونه پیل شوي، پرته له شکه چې په پایله کې به يې د لیبیا سیاسي او اقتصادي وضعه بدله او د امریکا پر ګټو برابره او د لیبیا پر ټولو نفتو واکمني به د امریکا لاس ته ورشي.

## یوولسم څپرکی

## قذافي او اسلامي نړۍ

قذافي او فلسطین:

ډگروال قذافي د ۱۹۷۰ ز کال د سپتمبر پر ۲۸مه د پان عربیزم د شعار په ورکولو سره د عربي نړۍ د رهبرۍ ادعا وکړه او له دې سره سم یې د فلسطیني مجاهدینو په گډون د هغو کړیو مالي ملاتړ پیل کړ چې د لیبرالیزم او استعمار پر ضد یې مبارزه کوله.

له فلسطیني مجاهدینو سره د صهیونیستي رژیم پر ضد د قذافي مرستې اغېزناکې هم وختې.

د ۱۹۷۲د جون پر ۱۱مه قذافي اعلان وکړ چې د فلسطین خپلواکي د هر عرب هیله ده،د دې لپاره باید د لیبیا ټول وگړي اړیني پوځي زده کړې وکړي،څو وکړای شي د اسراییلو پر وړاندې وجنگیږي،هغه همدا شان پر اسراییلو د بریدونو د مالي ملاتړ ډاډ ورکړ.

د مذهبونو پر یووالي د قذافي ټینگار

د لیبیایي رهبر ډگروال معمرابومینیارالقذافي یوه پټه وینا د ۲۰۰۷ د مارچ پر د پرشمه خپره شوه چې پکې د لیبیارهبر حیرانوونکې خبرې کړې وې.

ده د لاتیني امریکا یو شمېر هېوادونو ته تر سفرونو وروسته د شیعه او سني پر یووالي د ټینگار ترڅنگ له خپلمنځیو نانډریو د ځان ساتنې غوښتنه کړې وه.

د قذافي يوه د يادونې وړ چاره هم همدا د اسلامي نړۍ ترمنځ د يووالي لپاره د هغه هڅې وې، د دې هڅو په خوا کې ده کوښښ کاوه چې تر خپلې وسې پورې د اسلامي هېوادونو مالي ملاتړ هم وکړي.

د قذافي لخوا د ايراني حکومت ستاينه

د ليبيا رهبر پر هېواد يې تر سياسي او اقتصادي بنديزونو وروسته په ۲۰۰۷ کې وغوښتل چې د سياستونو په بدلون سره يې د دې لپاره چې له عربو سره پر ځينو مسايلو خپله ناهمغږي وښيي، د ايران په شان يې د دوی په سرمشريزه کې برخه وانخېسته.

دغه راز يې د ايران د اټومي هڅو، صنعتي توليداتو او درېځونو په ستاينې سره له احمدي نژاد څخه وغوښتل چې له ليبيا سره خپلې اړيکې له سره وځېړي.

په يوه بله وينا کې قذافي احمدي نژاد يو ښه رهبر هم وباله.

## لیبیا ته د شهید سردار محمد داود خان سفر

سردار محمد داود خان چې کله عربي هېوادونو ته خپل سفر پیل کړ، سعودي عربستان، مصر او لیبیا هېوادونو ته لاړ، په عربستان کې یې د عمرې مراسم ترسره او د سعودي عربستان له پاچا سره وکتل.

د سعودي پاچا شهید داود خان ته ژمنه ورکړه چې له شوروي تلوالې سره د افغانستان د اړیکو په پرې کېدو سره د افغانستان ټول بهرني پورونه او په ځانګړې توګه د شوروي پورونه به لنډ کړي.

داود خان په مصر کې له انورسادات او په لیبیا کې له معمر القذافي سره وکتل.

وایي د لیبیا ولسمشر پخپله کېږدۍ کې په بې پروایۍ سره د سردارمحمد دواد خان هرکلي وکړ، د لیدنې پرمهال چې د دود له مخې له نهم ساعت څخه تر یوه ساعته پورې و، داود خان ته چندانې پاملرنه نه کوله او ځان یې له هغه لرګي سره چې په لاس کې یې و او هاخوا، دېخوا یې خوځوه، بوخت ښوده.

دا لیدنه چې ښایي قذافي سره د سردار محمد داود خان لومړنۍ لیدنه به وه، قذافي تر یو ساعته لیدنې وروسته له غونډې پاڅېد او له تالاره بهر شو.

داود خان د قذافي تر وتلو وروسته وخندل او ویې ویل: دا قذافي خو لېونی دی!

د داود خان ځینو همسفرو د هغه پر دې خبرې سخت وخندل، ځکه خپله داود خان په خلکو کې پر لېوني سردار مشهور و.

قذافي سره له دې چې له داود خان سره په لیدنه کې بې پروایي ښودلې، خو له اسلامي نړۍ سره یې ښې اړیکې لرلې، د لیبیا له مرستو یې نه یوازې افغانستان بلکې؛ ټول ناشتمن اسلامي هېوادونه برخمنول.

په ۱۳۵۲ل کال کې چې پر افغانستان وچکالي راغلې وه، د لیبیا حکومت د ښاغلي سید قاسم رښتیا په مشرۍ د افغاني پلاوي په هڅو د لیبیا د سفارت له لارې یوسلو شپېته زره امریکایي ډالره د لیبیا د مرستې په توګه افغانستان ته را ولېږدول.

سید قاسم رښتیا د لیبیا له سفیر څخه وپوښتل چې دا پیسې د چا لخوا په کوم ډول افغانستان ته لېږدول کېږي؟ سفیر لږه موده وروسته وویل چې په نېغه توګه کابل ته!

لږ وخت وروسته پیسې کابل ته ورسېدې او د افغانستان حکومت له لیبیا څخه د مننې په خوا کې افغانستان سره د دغه هېواد د هراړخیزې همکارۍ غوښتنه وکړه.

## د لیبیا حکومت او د افغانستان جهاد

د لیبیا حکومت د جهاد پر مهال د افغانستان له سیاسي بهیر سره ځانګړې لېوالتیا لرله او په افغانستان کې د سولې او د مجاهدینو د تنظیمونو ترمنځ یې د خبرو ،اترو هڅې کولې.

دې هېواد له ډېرو جهادي تنظیمونو سره اړیکې لرلې خو تر ټولو زیاتې یې د افغانستان له اسلامي حزب سره وې،له همدې امله د لیبیا د دیموکراتیک جمهوریت د اسلامي دعوت او ارشاد وزارت په رسمي ډول په پاکستان کې مېشتو افغان زده کړیالو ته د خپل هېواد د علمي سفر بلنه ورکړه.

زده کړیالو بلنه ومنله، یوه ډله یې واستوله چې له لیبیایي استادانو سره یې د افغانستان او اسلامي نړۍ پر مهمو موضوعاتو لازمې خبرې،اترې وکړې.

زده کړیالو دغه راز له طرابلس،بنغازي او مصراتې ښارونو او ځینو نورو مهمو ځایونو څخه لیدنې وکړې.

دغو زده کړیالو د محاسبې،ژورنالېزم او کمپیوټر په برخو کې له لیبیایي استادانو سره بحثونه او د نظرونو تبادلې وکړې.

## دولسم څپرکی

## پر نړۍ د امریکا پوځي بریدونه

باید یادونه وشي چې امریکا د شومو موخو او ارمانونو له مخې یې د نړۍ په ستراتېژیکو سیمو کې نېغ، په نېغه خپل پوځیان ځای، پرځای کوي چې د دې کار بنسټیزه موخه د اسلامي نړۍ تر اغېزې لاندې راوستل دي.

د امریکا د دې لښکر ځای، پرځای کولو او لاسوهنو یادونه مو په دې وکړه چې نړیوال پوه شي د امریکا موخې د نړیوال سولې او ټیکاو ټینګښت نه؛ بلکې د خپلې واکمنۍ او واک زیاتونې ارمان ته کار کول دي.

امریکا په پام کې لري چې د لښکرو په نېغ او نانېغه توګه ځای، پرځای کولو سره اسلامي هېوادونه تر خپل اغېز لاندې راولي، د لښکرونو دا ځای، پرځای کول چې څه له پوځي او څه له ډیپلوماتیکه پلوه دي، امریکا یې په مټ د خپل اغېز زیاتولو هڅې لري.

د چین، ایران او پاکستان څېل او د افغانستان دایمي اشغال د همدې پلانونو د عملي کېدو اړوند دي.

نن د ډېرو اسلامي هېوادونو مشران د امریکا د پوځي هڅو تر اغېزې لاندې د دې هېواد منونکي شوي، پرته له دې چې د مظلوم او ظالم توپیر وکړي، د امریکایي مشرانو خبرو ته لاس په نامه ودریږي او غواړي پخپل ملاتړ سره پر نړۍ د امریکایي واکمنۍ کړۍ پراخه کړي.

د همدوی په مرسته او ملاتړ امریکا څه په ښکاره او څه پټه، څه په مخامخه او څه په نامخامخه توګه په دغو هېوادونو کې خپلې لښکرې ځای، پرځای کړې:

۱-کولمبیا ۱۹۰۱ز: امریکایي سرتېرو په ترانزیتي کرښو کې د خپلو مالونو د خوندیتوب په پلمه په کانال سیمه کې د یوه تاوتریخوالي په رامنځته کولو سره ترخپلې ولکې لاندې راوستله.

۲-۱۹۰۲ز کولمبیا: امریکایي سرتېرو په دلتور سیمه کې د مېشتو امریکایانو د سرومال د خوندي کولو په پلمه جګړه وکړه.

۳-۱۹۰۳ سوریه: امریکایي سرتېري د خپلې کونسلګرۍ د خوندي کولو په پلمه بیروت ته ننوتل.

۴-۱۹۰۴ پاناما: امریکایي سرتېري د خپلو ګټو لپاره پر پاناما کانال د خپلواکۍ او بدلون راوستو په نامه برید وکړ.

۵-۱۹۰۴ مراکش: د امریکا سمندري سرتېرو د خپل هېواد د سرکونسل د خوندي کولو لپاره د مراکش خاورې ته ننوتل.

۶-۱۹۰۵ کسره: د امریکا سمندري سرتېري د روس او جاپان د جګړې پرمهال د امریکایي منځګړي پلاوي د ژغورنې لپاره سئول ته واستول شول.

۷-۱۹۰۷ز هندوراس: امریکا د خپلو ګټو د لاسته راوړلو لپاره د نیکاراګوا او هندوراس د جګړې پرمهال تروخیلو، سیبا، پرتو کوائز، لاګونا او چولوما سیمو ته خپل سرتېري واستول.

۸-۱۹۱۱ز چین: د ناسیونالیستي انقلاب له امله امریکایي سرتېري د چین بېلا، بېلو سیم وته واستول شول.

۹-۱۹۱۲ز کوبا: امریکایي سرتېرو په روسینت او هاوانا ایالتونو کې د امریکایانو د ځان ساتنې لپاره جګړه وکړه.

۱۰-۱۹۱۲ز ترکیه: امریکایي سرتېرو د امریکایانو د امنیت نیولو لپاره په قسطنطنیه کې د بالکان جګړه پیل کړه.

۱۱-۱۰۱۴ز روسیه: امریکایي سرتېرو د خپل سرکونسل د سرساتنې لپاره ووستوک ولادي سیمې ته ننوتل او د یرغلګرو ځواکونو د یوې برخې په توګه پکې پاتې شول، دغو سرتېرو وروسته په ارخانګل کې د بلشویکي انقلاب په ځوابولو کې هم پوځي مداخله وکړه.

۱۳-۱۹۱۹ز هندوراس: امریکا د عامه نظم د ټینګښت په پلمه جګړه وکړه.

۱۴-۱۹۲۰ز چین: د امریکا سرتېرو په کیوکیانګ کې د وسله وال اړودوړ پرمهال هغلته د مېشتو امریکایانو د ژغورنې لپاره برید وکړ.

۱۵-۱۹۴۵ز جاپان: پر هیروشیما او ناګازاکي د امریکا اټومي بمبار.

۱۶-۱۹۶۰ز: د فیډل کاسترو د انقلابي حکومت پرضد د بغاوت کوونکو د ملاتړ لپاره

پرکیوبا د امریکا پوځي یرغل.

۱۷-پر کامبوج د امریکا پوځي تېری، امریکایي مشرانو ټینګار کاوه چې کامبوج باید تر خپلې یرغل لاندې راولي، په دې جګړه کې یې د کامبوج تر دوو میلونو ډېر استوګن ووژل.

۱۸-ویتنام ته د امریکایي پوځیانو لېږل چې په ترځ کې یې دوه نیم میلونه ویتنامیان مړه او معلولین شول.

۱۹-۱۹۵۱ز:پر کوریا د امریکا پوځي برید چې پکې یو نیم میلونه کوریایان ووژل شول او وریسې دغه هېواد پر دوو برخو یانې شمالي او سویلي کوریا وویشل شو.

۲۰-۱۹۸۲ز لیبیا:پر ترابلس د امریکایي پوځ برید په دې نیت وشو چې ولسمشر معمر قذافي ووژني،دې موخې ته ونه رسېده خو د قذافي یو زوی او څو ساتونکي یې شهیدان کړل.

۲۱-۱۹۸۲:امریکایانو پر لبنان د دې لپاره پوځي یرغل وکړ چې د اسراییلو د صهیونیستي رژیم د هویت تنګه وکړي،خو د لبنان مسلمانو او مجاهدو خلکو له شهادت غوښتونکو داوطلبه بریدونو سره امریکایان ناکامه او یرغلګر سرتېري یې له خپلې خاورې وېستو ته اړ کړل.

۲۲-۱۹۹۸:امریکا پرسوډان توغندیز بریدونه وکړل چې سلګونه مسلمانان یې شهیدان کړل.

۲۳-۱۹۵۸:امریکایانو پر لبنان برید وکړ چې د سورېې پر وړاندې مبارزه وکړي او د اسراییلو د صهینونیستي رژیم ملاوتړي،په دې برید کې د امریکااو اسراییلو وحشي لښکرو د اردن،لبنان،مصر او سورېې مسلمانان وځپل.

۲۴-۱۹۷۵ز:امریکا په انګولا کې د دې لپاره پوځي لاسوهنه وکړه چې د انګولالوید یخ پلوه حکومت پیاوړی کړي.

۲۵-پریوګوسلاویا هم امریکا پوځي یرغل وکړ.

۲۲-۱۹۹۲ز: امریکا د ژغورنې او مرستې په پلمه پر سومالیې برید وکړ.

۲۷-.۱۹۹۰ز: امریکا پر عراق په دې پلمه برید وکړ چې کوېټ له دې هېواده وژغوري، په دې برید کې یوسلو پنځوس زره عراقیان د امریکایي وحشي ډوله سرتېرو لخوا شهیدان شول.

۲۸-په سعودي عربستان کې دامریکا او همدا شان د انګلستان د پوځیانو ځای، پرځای کېدل، د دې کار موخه د استعمار منګولو ته د عربي هېوادونو را ښکېلول و.

۲۹-پر کوزوو هم امریکا برید وکړ.

۳۰-پر روندا هم د امریکا لخوا برید وشو.

۳۱-د سپتمبر د ۱۱مې په پېښه کې د بن لادن د لاس لرلو په پلمه امریکا پر افغانستان وحشیانه پوځي تېری وکړ، خو اصلي موخه د افغانستان یرغمل کول و.

۳۲-پر پاکستان هم امریکایي سرتېرو په همدې یاده پلمه هوایي برید وکړ چې ډېر شمېر مسلمانان پکې شهیدان شول.

۳۳-امریکا په منځني ختیځ کې د اسراییلو د صهیونیستي حکومت د موجودیت او پېژندنې پوره ملاتړ وکړ او د شهید پالونکو فلسطینیانو په له منځه وړلو کې یې د اسراییل مرسته وکړه.

۳۴-په ۱۹۴۸کې امریکایي سرتېرو په پوره او هرارخیز ډول له عربو سره د جګړې پر مهال د اسراییلو ملاتړ وکړ.

۳۵-۱۹۷۳: د امریکا پوځ او استخباراتو د نړۍ پر انرژیکي سرچینو د واکمنیدو هڅې ګړندۍ کړې.

۳۲-امریکا د دې لارې، چارې لټوي چې څنګه په نړیواله کچه اقتصادي بازارونه پخپله ګټه را وڅرخوي.

۳۷-امریکا په دې هڅه کې ده چې پر ټولنیزو او اړیکیزو وسیلو د واکمنۍ په لرلو سره د نړیوالو عمومي افکار پخپل واک کې وساتي.

۳۸-۲۰۰۲ ز: امریکایي بې پیلوټه الوتکو د پاکستان پرخاورې وحشیانه هوایي بریدونه وکړل چې پکې په زرګونه پاکستاني مسلمانان شهیدان شول، دا لړۍ اوس هم روانه ده.

۳۹-۲۰۰۱ ز: د لیبیا پرمسلمانو خلکو د امریکا، فرانسې او برتانیې ګډ وحشیانه بریدونه خو لا تازه پېښه ده چې پکې زرګونه لیبیایان ووژل شول، باید وویل شي چې لومړنی هوایي برید د یوه فرانسوي میراژ الوتکې لخوا ترسره شو.

امریکایي چارواکو په تېرو کلونو کې په پرله پسې توګه د نړۍ د هېوادونو په څانګړې توګه د مسلمانو هېوادونو په چارو کې په بېلا، بېلو ډولونو لاسوهنې کړي چې دې وحشیانه چارو او بریدونو د نړۍ د هېوادونو د مشرانو غوسه را پارولې.

نفت؛ پر لیبیا د جګړې د پردې پټه موخه!

لیبیا چې د نړۍ د ټولو نفتي زېرمو درې نیم سلنه یې په واک کې ده، د نړۍ له مهمو نفت لرونکو هېوادونو ګڼل کېږي، د دې هېواد نفتي زېرمې د امریکامتحده ایالاتو د دې زېرمو دوه برابره دي.

پرلیبیا د امریکا پوځي عملیات پرمنځني ختیځ او منځنۍ اسیا د دغه هېواد یوه له مهمو موخو څخه وه، په دې برید او د لیبیا په خپلولو سره امریکا وکړای شول د نړۍ پر ۶۰ سلنه نفتي او ګازي سرچینو لاسبرې شي.

د نـــــړۍ اســـلامي هېوادونـــــه: ســـعودي عربـــــــستان، عراق، ایران، کوېټ، عربي امارات، قطر، یمن، لیبیا، نایجیریا، الجزایر، قزاقستان، آذربایجان، مالېزیا او اندونیزیا له ۲۲ نیولې تر ۷۲ سلنې پورې د نړۍ ټولې نفتي زېرمې په واک کې لري.

لیبیا د ۴۲،۵ میلیارده بوشکو نفتو یانې د مصر لس برابره نفتو په درلودلو سره په افریقا کې د نفـتو د ډېرو زېرمو لرونکی هېواد دی، نایجیریا او الجزایر ورپسې دویم او درېیم ځای لري.

د پرتلنې لپاره ویلای شو چې د ۲۰۰۸ ز کال د رسمي رپوټونو پر بنسټ د امریکـا د نفتي زېرمـو کچـه ۲۰،۲ میلیـارده بوشـکو تـه رسیږي، په داسې حال کې چې لیبیـا ۲۰ میلیـارده بوشکې نفت او ۱۵۰۰ میلیارد مکعب متره ګاز لري.

پـه لیبیـا کـې د نفـتو ورځینـی تولیـد تـر ۱،۷ میلیـارده بوشـکو ډېردی، د لیبیا د نفتو ملي شرکت ویل چې غواړي په ورځ کې درې میلونه بوشکې نفت او ۲۲۰۰ میلون مکعب متره ګاز تولید کړي.

د انسانپالنې پـه نامـه پـر لیبیـا د امریکـا پـوځي یرغـل د امریکـاد هماغو ځانګړو ګټو د خوندي والي لپاره ترسره شو چې پر ۲۰۰۳ ز کال یې پر عراق د یرغل پر مهال په پام کې نیولي وو.

له دې یرغله د امریکا د پردې ترشا موخې یوازې همدا وې چې د لیبیا نفتي زېرمې یرغملې او د نفتو د ملي شرکت په بې ثباته کولو سره یې نفت د خپلو کمپنیو په واک کې راولي.

د لیبیا د نفتو ملي شرکت په سلو نړیوالو نفتي شرکتونو کې پینځه وېشتم ځای لري.

د لیبیا نفتي زېرمې نړېدې اتیا په سلو کې د دې هېواد په ختیځ په سیدرا خلیج کې دي،امریکا او انګلستان د ناټو د غړو هېوادونو په ملتیا پرداسې مهال د لیبیا نفتي زېرمې یرغملې کړې چې په نړیوال بازار کې د یوې بوشکې نفت بیه سل امریکایي ډالره ده،د یوه نفتي سوداګر خبره ده چې د لیبیا له نفتي زېرمو څخه د یوې بوشکې نفتو پر راوېستو یو امریکایي ډالر لګښت راځي.

پرلیبیا تر اوسني یرغل وړاندې د دې هېواد د نفتي زېرمو په راوېستو کې چین یو ډېر ونډه وال هېواد و،خپله د لیبیا د نفتو په ملي شرکت کې ۴۰۰ چینایي کارګر او په ټوله لیبیا کې نړېدې دېرش زره چینایي کارګر پر کار بوخت ول.

د لیبیا د نفتو ۱۱ په سلو کې استخراج هم چین ته وړل کېږي،په ټوله کې واشنګټن په افریقا کې د چین موجودیت لاسوهنه ګڼي،پر لیبیا د امریکایي یرغل یو لامل هم په شمالي افریقا کې د چین د ډېریدونکې اغېزې مخنیوی او له منځه وړل و.

پرچین سربېره په دې برخه کې د ایټالیې ونډه هم ډېره مهمه وه،د دې هېواد نفتي شرکت په ورځ کې ۲۴۴ زره بوشکې نفت او ګاز تولیدوي،دا کچه د لیبیا د صادریدونکو نفتو پینځه وېشتمه برخه کېږي.

همدا پر لیبیا د امریکا یرغل ته په پام سره به و چې په لیبیا کې امریکایي نفتي شرکتونو:چورون او اکسید انتال پترولیم په ۲۰۱۰ ز کې د نفتو او ګازو د تړون د نه غځولو پریکړه وکړه،خو یو الماني نفتي شرکت چې له دې مسلې نه وخبر؛د لیبیا د نفتو له ملي شرکت سره د لیبیا د نفتو د وېستو او پېرودلو یو مهم تړون لاسلیک کړ.

په لنډ ډول ويلی شو چې په ليبيا کې د امريکا او ناټو د لاسوهنې ستراتېژيکه موخه په ليبيا کې د انسانپالنې په نامه د ليبيا د نفتي زېرمو د غلاکولو موخه تر شا لرله.

د تونس، مراکش او الجزاير په اړه د امريکا مخالف دريځ له دغو هېوادونو سره د فرانسې له پياوړو اړيکو سرچينه اخېستې، په دې مانا چې امريکا غواړي په دې هېوادونو کې د خپلې خوښې حکومتونه رامنځته کړي.

په دې سيمه کې د فرانسې د دريځ کمزوري کول هم د امريکا له امپرياليستي هڅو څخه سرچينه اخلي.

## ایا پر لیبیا جګړه عادلانه وه؟

پر لیبیا د امریکا برید په شمالي افریقا کې د خپل ډول تر ټولو ګلورمه خطرناکه جګړه وه، عمومي افکار باید د انسانپالنې په شعار د امریکا د دې جګړې پر پټو موخو وپوهېږي، د تاریخ په اوږدو کې اوږدو کې او هم اوسمهال د انسانپالنې په پلمه جګړه د جګړه مارو لخوا د عدالت لپاره جګړه هم ګڼل شوې.

د عدالت په نامه جګړه د دوی په اصطلاح د پوځي یرغل له لارې د شرخوښو او ترهګرو مسلمانو هېوادونو د نظامونو راپرځول دي، د قذافي د راپرځونې لپاره هم امریکا او شیطاني ملګرې یې (ناټو) همدا پلمه غوره کړه او هغه یې تر شیطان ګڼلو وروسته د پوځي یرغل له لارې را وپرځاوه.

د ناټو مشران او غړي هېوادونه که څه هم د خپلو تبلیغاتي هڅو په برکت په نړۍ کې د سمونې او رغونې اتلان ګڼل کېږي، په عراق، افغانستان، فلسطین او لیبیا کې د جګړې او ورانۍ پیلونکي دي.

دوی همدا شان ځانونه د عدالت ملاتړي او په ټنګه یې جګړې ته لاس غځونکي ګڼي، که دا رېښتیاوي وي نو پوښتنه دا ده چې په ابوغریب، ګوانتانامو او بګرام زندانونو کې انساني تلفات او د افغانستان، عراق، پاکستان او لیبیا په ښارونو کې د ولسمشر اوباما په امر شوو پوځي لاسوهنو او ولسي مرګ، ژوبلو ته انسانپالنه او عدالت ویلی شو؟

د جګړې لپاره د عدالت په نامه څه نشته، پر دې سکالو (موضوع) د پوهیدو لپاره خوانانو ته اړینه ده چې د امریکا د امپریالیزم تاریخ

ولولي، متحده ایالات غواړي په یوه مهال د نړۍ په بېلا، بېلو ځنډو کې وجنګیږي او له ګټو یې برخمن شي.
د دې هېواد نوې ستراتېژي په ښکاره ښيي چې دامریکا د امنیت ساتنې لپاره جګړه ولې اړینه ده، په دې ستراتېژۍ کې د انساني‌پالنې لپاره د کومې قرباني ورکړه اړینه نه ده ګڼل شوې، د دې خبرې په رڼا کې د لیبیا په اړه ویلای شو چې پر دې هېواد امریکا او ملګرو یې ځکه پوځي یرغل وکړ چې د امریکا اغېز او غوښتنې یې نه منلې.
په لنډ ډول ویلی شو چې پرلیبیا د امریکا پوځي یرغل دانسانپالنې یا کومې بلې داسې موخې لپاره نه؛ بلکې د دې لپاره وشو چې د امریکا د جګړه ییزې پوځي ستراتېژۍ تر سرې کرښې لاندې راغلې وه او د امریکا لپاره یې ارزښتناک نفت په ارزانه په واک کې ورکول.

هغه هېوادونه چې د امریکایي یرغملتوب پروړاندې ودریدلای شي!
په ۱۹۹۹ز کال کې ترهغې جګړې وروسته چې په ښکاره د کوېټ د ازادۍ لپاره ترسره شوه، امریکا پرټولې نړۍ د خپلې واکمنۍ د ټینګولو هڅې پیل کړې، د امریکا او پنټاګون په پټو استخباراتي معلوماتو کې راغلي چې پر نړۍ د امریکا د واکمنیدو پلان لاله ډېر وړاندې جوړ شوی و.
د ۲۰۰۱ ز په نومبر کې د امریکا یوه لوړ پوړي پوځي چارواکي وویل: مونږ د عراق د جګړې پر لورځو، خو خبره همدلته پای ته نه رسیږي، ځکه پوځ به مو یو پینځه کلن پلان په پام کې ونیسي چې اوه

هېوادونـه: عراق، سوریه، لبنان، لیبیا، ایران، افغانـستان او سـوډان هریو پرخپل وار تربرېدونو لاندې راشي.

هغه زیاته کړه: امریکا متحده ایالات د دې لپاره چې د نړۍ د خوندي ساتلو یوازینی هڅاند هېواد دی، مونږ باید وکړای شو چې د هرې پېښې د پېښېدو پر مهال چټک غبرګون وښیو او په مستقله توګه عملي ګام واخلو، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د غبرګون ښودلو پرسر نړیواله همغږي لاسته رانه شي.

سره له دې چې د نړۍ ډېر هېوادونه په پټه د امریکایي پټو پلانونو پـه شـنډولو پـسې اخېـستي، خو د چین، روسیې، شـمالي کوریا، ایران، سوریې او پاکستان دولتونه هڅه کوي چې په یو نه یو ډول امریکا د خپل غشي ښکار وګرځوي.

پر دې سربېره اروپايي هېوادونه هم نه غواړي چې د امریکا تراغېزې لاندې اوسي، دوی که څه هم په ښکاره ځانونه د امریکا ملګري ښیي خو په پټه هر یو د خپلو ګټو د خوندي کولو او د امریکا پرضد د هڅو پر کولو بوخت دي.

## دیار لسم څپرکی

## د لیبیا وروستۍ پېښې

له عربي هېوادونو څخه اغېزمنيدل:
د لیبیا وروستيو پېښو د نورو عربي هېوادونو په ځانګړي ډول د تونس او مصر له پېښو سرچینه واخیسته، خو هغه څه چې د لیبیا کړکیچ يې له يوې سیمه ییزې ستونزې څخه نړیواله کړه، په دغه هېواد کې له امریکا سره یو ځای د یو شمېر اروپايي هېوادونو(د فرانسې او انګلستان په مشرۍ) پوځي لاسوهنه وه.
د لیبیا له بهرني دریځ سره د لویدیځو هېوادونو پخوانۍ خرې اړیکې مو په یاد دي، اټومي وسلو ته د لیبیا د لاسرسي هڅې، په لاکربي کې د پان امریکن مسافر وړونکې الوتکې د چاودنې پېښه او له نړیوالو اسلامپالو ډلو څخه د لیبیا تنګه د دې پیاوړو اختلافاتو ښې بېلګې وې چې ان د قذافي د شخصیت وژنې، پر کاله يې د امریکایانو بمبار او د هغه د بچیانو او لمسیانو وژل کېدو ته خبره ورسېده.
خو له لویدیځ سره د ښو اړیکو رامنځته کېدو ته د قذافي لېوالتیا د دې لامل شوه چې اړیکې بیا له سره ښې شي، تر دې چې لویدیځو مشرانو له قذافي سره د اړیکو په ډېر ښه کولو کې سره سیالۍ ته شول، په دې سیالۍ کې د ایټالیې لومړي وزیر برلوسکوني د ټلویزونونو د کامرو پرورړاندې د قذافي لاس ښکل کړ او د فرانسې ولسمشر نېکولا سرکوزي هېواد ته يې د قذافي د سفر په ویاړ په الیزا ماڼۍ کې دننه او ترې بهر ځانګړې کېږدۍ ودرولې.

خو په عربي نړۍ کې د حکومتونو خلاف د نیوکو په ډېرېدو سره دا لړۍ لیبیا ته هم ورسېده، یوځل بیا د قذافي پروړاندې لویدیځو رسنیو سنګر ونیو، ناټو وویل، قذافي او حکومت یې شیطاني خواص لري.

د عربي نړۍ له وضعې څخه په ګټنې سره فرانسې، انګلستان او ایټالیې د قذافي پر ضد د امریکا متې پیاوړې او پر خاورې یې یرغل اسانه کړ.

په دې برخه کې هم د لویدیزوالو هغه خبرې چې خپل برید ته یې غوښتل مشروعیت ورکړي، ناسمې دي، هماغسې لکه صدام حسین چې یې د اټومي وسلو په لرلو او د افغانستان طالبان یې چې القاعده وو ته په پناه ځای ورکولو تورنول.

## د قذافي پړیکړې او تاوتریخوالی

د ۲۰۱۱ د جنورۍ پر ۱۳مه په لیبیا کې د ناټو په ملاتړ د وسله وال تاوتریخوالي په پیلېدو سره معمر قذافي په لومړیو کې وکړای شول چې د امنیت ساتنې د ځانګړو پلانونو په مټ د صلیبي جګړې پر وړاندې مقاومت وکړي.

خو لویدیزوالو آخر هم وکړای شول چې خپلې آرې موخې ته چې په مستقیمه توګه په لیبیا کې پوځي لاسوهنه وه، ورسیږي، دوی د فبرورۍ پر ۲۷مه دا کار هم پیل کړ او له واکه د قذافي د ګوښه کېدو غوښتونکي شول.

قذافي اعلان وکړ: زه په هیڅ ډول هم واک نه پرېږدم، ځکه که داسې مې وکړل، د لیبیا واګې چې اته نوي سلنه خلک یې مسلمانان دي، د

داسې چالاس ته به ولوېږي چې د یمن او قطر د ولسمشرانو په شان به د لویدیځ نوکران وي.

د لیبیا رهبر په ځلونو، ځلونو پرټلویزون ښکاره او د وروستیو ځونړیو پېښو پروړاندې له غبرګون ښودني سره وویل: د ګوښه کېدو نیت نه لرم، زه په وتړوېلا کې نه بلکې په طرابلس کې یم.

قذافي پخپله یوه دقیقه یي وینا کې هغه رسنی چې ویل یې، دی وتړوېلا ته تللی، د امریکاسپي وګڼل.

د لیبیا دولتي ټلویزون هم له هېواده د قذافي د تېښتې خبر رد او پروپاګند وباله.

قذافي په یوه بله وینا کې وویل: زه د لیبیا او بیا مسلمان یم، ترهر څه مخکې یو انقلابي مجاهد یم، امریکا او ټول صلیبیان باید پوه شي چې ما د انقلاب له لارې حکومت ترلاسه کړی او تر هغې چې یوه څاڅکې وینه مې په رګونو کې وي، د لیبیا له لوېشتې، لوېشتې خاورې به دفاع کوم او نه پرېږدم چې هېواد مې د صلیبیانو لاس ته ولوېږي.

لویدیځ د لیبیا رژیم وغنده!

لویدیزو هېوادونو د لیبیا حکومت د وسله والو پاڅون کوونکو د ډله ییزې وژنې په تور وغنده او تر پوځي تېري لاندې یې راوست، خو په یمن او بحرین کې د بې دفاع حکومت ضد و پاڅون کوونکو پر ډله ییزې وژنې چې د سعودي عربستان او د عربي هېوادونو د همکارۍ د شورا په مرسته وشوې، څکه چوپ پاتې شول، چې چارواکي یې د دوی لاسپوڅي ول.

## د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه ليک

پر ليبيا پوځي بريد د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د(۱۹۷۳-۱۹۷۰)ګڼو پريکړه ليکونو له مخې او د نړيوالو اصولو په پلمه کولو سره ترسره شو ،دغه پريکړه ليک چې د روسيې او چين ممتنع رايې يې خپلې کړې وې،يوازې يې د ليبيا پر منع شوو سيمو د هوايي عملياتو اجازه کړې وه،خو برعکس د بريد پرمهال پر پوځي تاسيساتو او نورو سيمو هم بريدونه وشول.

پر ليبيا بريد وښوده چې د امريکا او ملګرو موخه يې د ليبيا د ولسي رهبر وژل او پرځاى يې د دوى په خوښه د يوه ځاى ناستي رامنځته کول دي او دا د هغو نړيوالو حقوقو او تړونونو خلاف څه دي چې امريکا ،انګلستان،فرانسې او هم شانو زبرځواکو يې په رامنځته کولو کې هڅې کړي.

امريکا او ملګرو يې په دې عمل سره دا هم وښوده چې دوى ته د ملګرو ملتونو په دفترونو کې پراته نړيوال قوانين قوانين نه؛بلکې دا قانون دى چې که څوک د لويديځ خلاف وي،د قانون خلاف دى او بايد وځپل شي ،لکه صدام حسين،ملاعمر ،حکمتيار ،بن علي،ډګروال قذافي،بشارالاسد او سيدعلي خامنه يي چې د همداسې ځپل شوو او ځپل کېدونکو رهبرانو په ډله کې راځي.

خو د سعودي عربستان پاچا ،د کويټ امير ،د بحرين سلطان،يمن،قطر ،متحده عربي امارات،مالکي او نور چې د لويديزوالو د جناياتو ملګري او يا يې پروړاندې چوپه خوله دي،د لويديځ په نوملړ کې د نړيوالو اصولو خلاف نه ګڼل کېږي.

**قذافي: د لیبیا خلک دې وېښ وي!**

د ۱۳۹۰ د وري پر ۲۳مه وروسته تر هغې چې پر لیبیا د امریکا، فرانسې او ایتالیې پوځي بریدونه پیل شول، د لیبیا رهبر معمر قذافي اعلان وکړ چې د لیبیا خلک دې وېښ وي، جګړه صلیبي ده، هر لیبیايي کولای شي له خپلې خاورې څخه دفاع وکړي، سر له نننه یې زه پر مخ د وسلو زېرمتونونه خلاص پرېږدم، څو خلک راشي، وسلې واخلي او د نننیو صلیبیانو پر وړاندې وجنګېږي.

قذافي دا هم وویل: کفري هېوادونه دې پردې ښه پوه شي چې کله به هم د لیبیا پر خلکو بریالي نه شي.

**د لیبیايي ښځو راټولېدنه**

د ۱۳۹۰ د غویي پر ۳۰مه د لیبیا د ښځو لخوا یوه غونډه بلل شوې وه، دوی د یوې ودانۍ مخې ته چې اکثره لویدیځ خبریالان هم ورته راغلي وو، د یوه لاریون په کولو سره ادعا وکړه چې د لویدیځ خبریالان په لیبیا کې د جګړې د چټکۍ لامل شوي، دوی ویل، دغه خبریالان پر واقعیتونو سترګې پټوي او هغه خبرونه خپروي چې له حقیقته لرې دي.

لاریونوالو په داسې حال کې چې د لیبیا شین بیرغ یې له ځانونو سره لېږداوه، د امریکا او نورو هغو هېوادونو خلاف شعارونه ورکول چې پر لیبیا یې پوځي برید کړی و، دوی ویل: موږ له امریکایانو څخه کرکه لرو، ځکه هره ورځ موږ زرګونه بې ګناه ښځې او ماشومان شهیدانوي.

## یاغیانو ته د هلیکوپټرو د ورکړې ژمنه

د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر لومړۍ کفري هېوادونو اعلان وکړ چې د لیبیا دولت ضدو وسله والو سره د هلیکوپټرو مرسته کوي، څو په اسانۍ سره د ولسمشر قذافي پلویان وځپي، د جګړې له پیلیدو سره امریکا، فرانسې او برتانیې هڅه پیل کړه چې په لیبیا کې یوه کورنۍ جګړه رامنځته او الله(ج) مه کړه دا هېواد په یوه اوږده کورنۍ جګړه کې وسوزوي.

## د طرابلس دګېن مېشتو سیمو بمباروl

د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر ۱۰مه د شمالي اتلانتیک تړون(ناټو) چورلکو د طرابلس ګڼ مېشتې سیمې تر بمبارۍ لاندې راوستې، چې د پرله پسې بریدونو له امله لیبیایي سرتېري تېښتې ته اړ شول، د دې بمباریو په پایله کې لسګونه کسان چې ډېر شمېر یې ولسي وګړي وو، شهیدان هم شول، د لیبیا خلکو بیا، بیا له ناټو څخه پر ولسي سیمو د بمبارۍ د مخنیوي غوښتنه وکړه خو ناټو داسې ونه کړل.

## د ناټو د څو چورلکو راپرځول

سره له دې چې د ناټو جنګي چورلکو د لیبیا پر خلکو خپلې بمبارۍ چټکې کړې، د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر ۱۴مه د ناټو نورو هلیکوپټرو په ټیټې ارتفاع او پیاوړي رادار سېستم سره د لیبیا پوځي سیمې تر پوځي تېري لاندې راوستې، چې د پرله پسې بریدونو په پایله کې یې خورسنۍ چې د لویدیځ په ولکه کې دي، په دې اړه یې خبرونه خپاره نه کړل.

## فیډل کاسترو د قذافي د ځواکونو مقاومت وستایه

د کیوبا د انقلاب رهبر فیډل کاسترو چې د قذافي نږدې ملګری و او څو ځله یې ورسره لیدنه او خبرې کړې وې، د ناټو د بریدونو پر وړاندې د قذافي د ځواکونو مقاومت د ستاینې وړ وګاڼه.

د ریانوستي د رپوټ له مخې، کاسترو پر لیبیا د دې بریدونو غندنه هم وکړه او په هغه لیکنه کې یې چې د کیوبا د کمونېست ګوند په ورځپاڼه کې خپور شو، دغه برید د نازیانو او فاشیستانو له بریدونو سره هم شانه وګاڼه.

کاسترو ولیکل: دا برید د دریېمې نړۍ پر هېوادونو د نړیوالو هغو یو بل برید دی، د ده په باور لویدیځ د لیبیا د سیاستونو د منلو او ردولو حق لري، خو څوک نه شي کولای د ملګرو ملتونو د دې خپلواک غړي موجودیت له ګواښ سره مخامخ کړي.

کاسترو ادعا درلوده چې که د ناټو پر وړاندې مقاومت همداسې روان وي، قذافي به د عربي نړۍ په تاریخ کې یو له سترو رهبرانو څخه وشمېرل شي.

## د لیبیا پر بې دفاع خلکو د ناټو هوایي بمبارۍ

د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر ۱۷مه د ناټو جنګي چورلکو د لیبیا پر خاورې خپلې بمبارۍ لاپسې چټکې کړې، دوی که څه هم د بمبار لپاره لاله وړاندې ځینې سیمې په نښه کړې وې خو داسې سیمې یې هم بمبارې کړې چې سرتېري پکې نه ول، له دې امله د ښځو او

ماشومانو په ګډون لسګونه عام لیبیایان په دې بمباریو کې شهیدان شول.
د قذافي غږ په ځلونه، ځلونه د لیبیا د راډیو له څپو خپریده چې ویل يې: د ژوند تر وروستۍ شیبې مې له خپلو بې دفاع مسلمانو خلکو څخه دفاع کوم او نه پرېږدم چې د ناټو شومې موخې پرې بریالۍ شي.

**قذافي: د مرګ او تسلیمیدو فکر نه کوم!**

د لیبیا رهبر پر ترابلس د ناټو د بریدونو له غځیدو سره، سره له خپلو پلویانو وغوښتل چې په باب العزیزیه کې دې سره یوځای او د وسلو په اخېستلو سره خپل تاریخي مسولیت پرځای کړي.
ده په یو غږیز پیغام کې چې عربي رسنیو يې ځینې برخې خپرې کړې، خپل مخالف انقلابیان تر سختو تورونو لاندې راوستل، ده ادعا وکړه چې ۲۵۰ زره لیبیایان د هېواد د خپلواکۍ لپاره يې وسله وال شوي او د دولت ضد وسله والې کړۍ به ژر له پښو وغورځوي.
د دې وینا د خپریدو په ورځو کې وېل کېدل چې قذافي د ناټو د بریدونو له ډاره ژر، ژر د خپلې استوګنې سیمې بدلوي، ده ویل: ای د لیبیا خلکو! راپاځئ او هېواد مو خپلواکه کړئ!
قذافي دعوه کوله چې: زه له مرګه نه وېرېږم، زموږ ارادې د ناټو تر وسلو او توغندیو پیاوړې دي، مونږ پریکړه کړې چې د تاریخ پروړاندې خپل مسولیت په سم ډول سرته ورسوو.

د ناټو بریدونو ته په اشارې سره ویل: د دې لیبیایي مشر پر طرابلس د ناټو بریدونو ته په اشارې سره ویل: د دې لیبیایي مشر پر طرابلس پرله پسې بمباریو لاملونه څه دي؟ مونږ د مرګ هرکلی کوو، زما مرګ او ژوند دواړه به په ترابلس کې وي.

قذافي د خپلو احساساتي څرګندونو په دوام کې وویل: ای د لیبیا خلکو! پیاوړي اوسئ او سرلوړي ژوند وکړئ، له مرګه مه وېرېږئ!

قذافي ناټو ته په وینا کې وویل: تاسې نه شئ کولی چې د لیبیا د خلکو ارادې ماتې کړئ، ځکه دوی د عمرمختار بچي دي، مونږ پر خدای ایمان لرو، څوک چې داسې پوره ایمان ولري، هیڅکله له مرګه نه وېرېږي، موږ پر دې خبرې ټینګار کوو چې دښمنانو ته به مو سزا ورکړو، پر وړاندې به یې خپل جهاد وغځوو.

ده له خپل مشهور شعار (مخکې، مخکې لاړشئ) سره ادعا وکړه چې: د لیبیا ځوانانو خپلې سینې زما دفاع ته سپر کړې او باب العزیزیه ته راغلي.

د ناټو د چورلکو لخوا د دوو کلیو نیونه

د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر ۲۶ مه ناټو او برتانیې اعلان وکړ چې د قذافي پروړاندې له جګړې نه لاس په سر کېږي، بلکې له دموکرات پلوو یاغیانو سره مرستې لازیاتوي، څو د قذافي حکومت را وپرځولای شي.

دا خبرې پر داسې مهال وشوې چې د لیبیا دولت ضدو یاغیانو وکړای شول د ناټو د چورلکو په مرسته دوه نور ښارونه هم تر خپلې ولکې لاندې راولي او ورو، ورو د پلازمېنې ترابلس خوا ته نږدې شي.

ناټو دعوه کوله چې معمرقذافي د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره د پیسو په بدل کې له چاد او نایجیریا څخه سرتېري راوستي خو د ده پلوي ځواکونو په کلکه دا ردوله او ویل یې یو بهرنی سرتېری یې هم په لیکو کې نشته،دوی دا هم ویل چې په ځغرده اعلانوو چې د وینې تر وروستۍ څاڅکي به د لیبیا دولت ته ژمن پاتې شوو.

**د ناټو د پوځي لاسوهنې تر شا کوم لاملونه موجود وو؟**

لیبیا هم د وګړو د شمېر ،هم له سیمه ییزه پلوه او هم د نفتو د لویو زېرمو د لرلو له پلوه له مصر او تونس سره ډېر توپېرونه نه لري،دلته پوښتنه ولاړېږي چې دې هېواد ته د امریکا په مشرۍ د ناټو د جنګي چورلکو د بېړیو استول څه پایلې لري؟

لکه چې پوهېږئ ناټو او د شلو هېوادونو ډله له اقتصادي پلوه د نړۍ ۹۰ سلنه واکې په لاس کې لري او دغه هېوادونه هره ورځ پر مهمو نړیوالو مسایلو د نظر تبادله کوي،په دې هېوادونو کې لږ هېوادونه موندل کېږي چې وکړای شي نېغ،په نېغه د انساني قوت له مخې په لیبیا کې خپل سرتېري ځای،پرځای کړي،ځکه د اروپا خلک او هېوادونه له لویو او نه حلیدونکو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي،خو د لویو یرغلګرو هېوادونو یانې امریکا او انګلستان په اړه باید پوه شوو چې اوس هم د افغانستان او عراق په دروغجنو جګړو کې درنه ځاني او مالي زیانونه ګالي،اوس دا پوښتنه کوو چې فرانسې او کاناډا د دې هېوادونو په خوا کې ولې د لیبیا سواحلو ته

خپلې جنګي بېړۍ، واستولې او دا لړۍ ورځ، تر ورځې پراخېدونکې ده؟

آیا دا غله او چپاولګر هېوادونه د یرغلګرو پر وړاندې د لیبیا تاریخي مخیینې(سابقې)ته په پام سره په دغه هېواد کې خپلو موخو ته رسېدونکي دي؟

په ځواب کې وایو چې دا څلور هېوادونه په ښکاره نه شي کولای د لیبیا د یرغمل کولو نیت وکړي، ځکه چې د اقتصادي برخې څارونکي یې خلک خبروي او په دې برخه کې له سختو کورنیو فشارونو سره هم مخامخ کېږي.

په دې څلورو هېوادونو کې له امریکا پرته درې نور خورا اقتصادي ستونزې په مخ کې لري، څرګنده نه ده چې کوم دوی به ټول او که په ځانګړې توګه یې هېواد د لیبیا د جګړې لګښتونو ته غاړه ږدي، په داسې حال کې چې په عراق او افغانستان کې هم د ګرانې بیې جګړې روانې دي.

## قذافي او سطرنج

په وروستیو کې خبري رسنیو داسې تصویرونه خپاره کړل چې د لیبیا رهبر پکې د شطرنج د نړیوالې ټولنې له رېس ایلیومژنیف سره پر لوبې بوخت دی، د دوی د لوبې پر مهال د لیبیايي رهبر مشر زوی محمد قذافي چې د لیبیا د المپیک د ملي کمېټې رېس و، هم ناست و.

دا تصویرونه چې د ۲۰۱۱ د مۍ پر ۱۲مه خپاره شول، قذافي پکې خپل قهوه يي رنګه څادر پر غاړه لري او د عجیبه عادت له مخې یې تورې عینکې په سترګو دي.

د لیبیـا ټلـویزون اعـلان نـه کـړه چې دغـه لوبـه چـا وګټلـه، خو ایلیومژنیف په طرابلس کې له اینټرفاکس سره په ټلیفوني خبرو کې وویل چې د شطرنج د نړیوالې ټولنې د رییس په توګه یې دغې پلازمېنې ته رسمي سفر کړی او قذافي سره یې د شطرنج دوه ساعته لوبه لرلې.

د دغې نړیوالې لوبې مشر زیاته کړه: قذافي راته وویل: د لیبیا د پرېښودو کوم نیت نه لرم، هغه لیبیا خپل هېواد ګڼه، هغه هېواد چې زامن او لمسي یې پکې وژل شوي.

د ایلیومژنیف په خبره، قذافي ویل: نه پوهېږم له کوم مقام څخه استعفا وکړم، زه لومړی وزیر، ولسمشر او پاچا نه یم، په لیبیا کې مې داسې کومه دنده نشته چې ترې لرې شم.

د قذافي او ایلیومژنیف د شطرنج دا وروستۍ لوبه په هغه ځانګړي ځای کې نه وه چې قذافي پکې دا لوبه ترسره کوله، د لوبې غوښتنه هم د قذافي رسمي مېلمه کړې وه، قذافي یې پر داسې مهال دا غوښتنه ومنله چې پر ترابلس د ناټو جنګي چورلکو بمبارۍ کولې، له دې سره هم قذافي په یوه دولتي ودانۍ کې د شطرنج لوبې ته کېناست.

وېل کېږي چې د لوبې پر مهال ایلیومژنیف قذافي ته د شطرنج یوه تخته هم ډالۍ کړه، دا سړی هم لکه قذافي عجیب او غریب شخصیت ګڼل کېږي، ده یو ځل ادعا کړې وه چې له فضایي موجوداتو سره اړیکه لري او دغو موجوداتو یو ځل فضا ته هم په سفر بیولی و.

سرچينې او اخځليکونه

۱-اطلس جامع گیتاشناسی
۲-موندیالیزاسیون ورځپاڼه
۳-حکومتگران کشورهای اسلامی،د سیروس غفاریان لیکنه،انتشارات مدرسه تهران ۱۳۸۴
۴-تاریخ جوامع اسلامی
۵-تاریخ معاصر کشورهای اسلامی،د سیروس غفاریان لیکنه،د درسي خپرنو او پلان جوړونې دفتر ۱۳۷۲
۶-تاریخ معاصر افریقا از جنگ دوم جهانی تا امروز،د ماریان کورنون لیکنه،پارسي ته د ابراهیم صدقیاني ژباړه
۷-امیر کبیر،تهران ۱۳۶۵
۸-د اطلاعاتو موسسې ۸۰کلن اطلاعات ۱۳۸۹
۹-انلاین خبري وېبپاڼه
۱۰-ویکیپېډیا ،خپلواک پوهنغونډ
shafaq.org-۱۱
Rajanews,com-۱۲
۱۳-انتخاب خبري او خپرنیز بنسټ Entekhab.ir
۱۴-پاناډاټ کام خبري اژانس
۱۵-ایبنانیوز
www.shhrvand.com-۱۶
cioonews.com-۱۸
۱۹-جنگ ورځپاڼه-لاهور چاپ ۲۳۵
۲۰-نوای وقت ورځپاڼه-کراچی چاپ ۱۰۵

۲۱-دسایس غرب دربرابر کشورهای اسلامی، د حفیظ الله لشکري اثر، بشارت خپرندویه ټولنه
۲۲-د عبدالرحیم مرجاني انټرنېټي پاڼه
۲۳-د بي، بي سي فارسي وېبپاڼه د ۲۰۰۹ د مارچ ۳۰مه
۲۴-بي، بي سي فارسي وېبپاڼه
۲۵-د شرق ورځپاڼې ځانګړې ګڼه ۱۳۵۸د غويي ۱۵مه
۲۶-پرېس تي وي بیروت
۲۷-د څېړنو فرهنګي موسسه
۲۸-دوحې ته د فارس خبري اژانس د استول شوي خبریال رپوټ، ۱۳۹۸، د حوت ۱۰مه، سې شنبه
۲۹-قرن بیست یکم، قرن امریکا، کتاب ۱۳۴مه پاڼه
www.sibtayn.com-۳۰
۳۱-د سلام رپوټ، ۱۳۶۵ د تلې ۹مه
۳۲-د سید قاسم رښتیا سیاسي یادښتونه ۳۸۴مخ
۳۳-د الجزیرې وېبپاڼه ۱۳۸۲ د غويي میاشت
superchoice.mihanblog.com.post-۳۴
۳۵-ایران ورځپاڼه، ۱۳۸۵د غويي ۳۱مه
case-۳۶
۳۷-ویکلي استاندارد، ژباړن: علیرضا ثمود بین المللي
۳۸-ایسنا، ۱۹، ۴، ۱۳۸۶
۳۹-د لیبیا د بهرنیو اړیکو د شورا اسناد ۲۰۰۷ز
۴۰-از امیر کبیر تا رهبر کبیر

۴۱-میشل شوسودوسکي((د کاناډا په مونټرال کې د نړیوال کېدو د څېړنیز مرکز مشر او څېړونکی))
۴۲-پانا خبري اژانس
۴۳-مهر خبري اژانس
۴۴-مهر خبري اژانس
۴۵-د فرهنگیختگان انلاین وېبپاڼه
۴۶-د روسیې د کامرسانت خبري شبکه
۴۷-کارنامه های غرب










**چاپ چارې:**

**مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه/جلال آباد**

**اړيکشميرې: ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ / ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱**

momand.books@gmial.com